# کورونايي لنډۍ

## (د کورونايي لنډيو لومړنۍ ټولګه)

مقدمه، توضيحات او راټولونه:

آصف بهاند

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: کوروناېي لنډۍ، د کوروناېي لنډيو لومړنی ټولګه،

مقدمه، توضيحات او راټولونه: آصف بهاند،

د خپريدو نېټه: د ۲۰۲۲ کال جون مياشت،

د خپريدو ځای: افغان جرمن آنلاين پورتال.

# اهدأ:

**پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ ته!**
**چې د خلکو له سينو او ذهنونو**
**څخه يې د پښتني فولکلور**
**پټې خزانې راټولې**
**او خوندي کړې.**

آصف بهاند

# د مطالبو فهرست:

١ ــ لومړنۍ خبرې، ٥ ام مخ
٢ ــ د کوروناېي لنډيو له پاره توضيحات او يادداشتونه، ١٠ ام مخ
٣ ــ د کوروناېي راټولو کړو لنډيو متن، ٤٧ ام مخ
٤ ــ د ليکوال پېژندنه. ١٥٠ ام مخ

# لومړنۍ خبرې

د لنډیو په باب د هر بحث په پیل کې دا باید وویل شي چې: په لنډیو باندې خبرې کول کومه نوې خبره نه ده، خو زَړه هم نه شو ورته ویلای او هیڅکله به زَړه هم نه شي. لنډۍ هرکله نویو خبرو او نویو بحثونو ته اړتیا لري؛ د همدې اړتیا له مخې د لنډیو په باب بحثونه د لنډیو د موضوعاتو له مخې باید وویشل شي.

د دې کتاب د بحث وړ موضوع هغه لنډۍ دي چې کورونا وبا په کې انځور شوې او له دې وبا نه رازېږېدلو ستونزو ته ځانګړې شوې دي.

کومې لنډۍ چې په دې ټولګه کې ما راټولې کړې دي، د هغو لپاره مې د «کوروناېي لنډۍ» سرلیک ټاکلی دی او څه د پاسه زر (۱۰۰۰) لنډۍ مې راټولې کړې او خوندي کړېدي. دا ټولې لنډۍ مې پخوا تر دې په شپېتو (۶۰) برخو کې په پرلپسې ډول په افغان جرمن پورتال کې د «کورونا د لنډیو په غبرګ کې» ترسرلیک لاندې خپرې کړې دي.

د کوروناېي لنډیو د یادو شپېتو برخو له پاره مې په جلا ـ جلا ډول یادداشتونه نه دي لیکلي، خو د ځینو برخو په پیل کې مې د اړتیا له مخې د کورونا وبا په باب نوې ترلاسه کړې معلومات او زموږ په ټولنه او خلکو کې، له کورونا وبا نه د رازېږېدونکو ستونزو په هکله خبرې کړې دي او د خپلې ټولنې او خلکو په باب غږېدلی یم

چې په څومره امکاناتو سره او په څه ډول د دې وبا په مقابل کې درېدلي دي چې تر همدې مقدمې وروسته به راوړل شي.

په پښتو ادبیاتو کې د کورونا وبا د انځورونې او لومړنیو څرکونو په باب باید عرض وکړم چې: په پښتو هنري ادبیاتو کې د کورونا ناورین راښکاره کېدل، د کورونا له رامنځته کېدو نه لنډه موده وروسته ترسره شول. کورونا وبا د لومړي ځل له پاره په پښتو لنډیو کې انځور شوې ده.

سره له دې چې ښاغلي عبدالوکیل سوله مل د یوې مغتنمې څېړنې په ترڅ کې (د ۲۰۲۰ ام کال د اګست اتمه) ویلي دي چې:

«په پښتو ادبیاتو کې ایمل لومړنی لیکوال دی چې ددې غمیزې نه په اغیز بې پخپله د کرونا ترسرلیک لاندې لنډه کیسه ولیکله تر څو ددې ناورینه زیرېدلی خپل احساس او هنری تجربه له موږ سره شریکه کړی. زما له نظره ایمل لومړنی افغان او په ځانګړی توکه پښتون کیسه لیکوال دی چې پخپل وخت یې د پیښو هنری کولو ته متې رانغاړلی او دپیښو په جریان کې دناورین کیسه پنځوي. ما دده نوري داسې کیسې هم لوستی دي . یو له هغو یې هم(( د ښار جنګ)) کیسه ده چې د کندز د جګړې نه په اغیز لیکل شوې ده....»

خو زه فکر کوم چې تر پښتو لنډې کیسې مخکې به کورونا وبا د لنډیو په غېږ کې سر راښکاره کړی وي.

د ښاغلي ایمل پسرلي «کورونا» نومي لنډه کیسه، چې ښاغلي عبدالوکیل سوله مل یاده کړې ده، د دوه زره شلم کال د مارچ پر شپاړسمه نېټه په «تاند» کې خپره شوې ده، په داسې حال کې چې ما آصف بهاند له دې لا پخوا د لنډیو یو شمېر داسې بېلګې راټولې کړې وې چې «کورنا» وبا په بېلابېلو بڼو په کې یاده شوې او انځور شوې وه. د دې لنډیو لومړنۍ بېلګې مې د دوه زره شلم کال د فبرورۍ پر

اتمه د «کورونا نا روغي، د لنډيو په غېږ کې» ترسرليک لاندې د يوې مقالې په چوکاټ کې خپرې کړې او تر اوسه مې په سلګونو داسې نورې لنډۍ راټولې کړې او خپرې کړې دي.

د لنډيو راټولولو په کار کې، په تېره کورونا وبا پورې اړوند لنډيو په راټولولو کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوم. کله مې چې د نويو لنډيو د راټولو کار پيل کړ، په دې کار کې هيڅ چا ونه هڅولوم، تر يو څه منفي نظرياتو وروسته د لومړي ځل له پاره د استاد سيستاني له خوا وهڅول شوم. استاد سيستاني د افغان جرمن پورتال د نظرياتو په کړکۍ کې د ۲۰۲۲ ام کال د مې مياشتې په دېرشمه نېټه زما هڅې داسې ستايلي دي:

«اسم: سيستانی، محل سکونت: سويد، تاريخ: 30.05.2022

تشکراز استاد بهاند بخاطرجمع آوری لندهای پشتودر بارۀ کرونا!

ترس ووحشت همراه باتلفاتی که از کرونا در دوسال پسين نصيب بشريت شده است،درتاريخ بی نظيراست.تلفات مجموعی جهان تا نيمه ماه می از مرزدوصد ميليون انسان عبورکرد. خيلی از انسانهای خوب وبدرد بخور براثر اين ويروس کشنده جهانهای خوداز دست دادند. دراين جمله نويسنده جوان وپرکار افغان مصطفی عمرزی وداکتر نبی مصداق با چندين طبيب
شامل بودند.
تاثيراين وبا برجامعه فرهنگی پشتون کمتر از جوامع ديگرنبوده است. اين تاثير را ميتوان در لنديها وترانه های فولکوريک جامعه پشتون ديد واحساس کرد.

استاد آصف بهاند، بيش از هرکس ديگری از اهالی قلم به اين موضوع توجه نموده ودربخش پناه وهفتم از سلسله مقالاتی که وقف جمع آوری لنديهای پشتو نموده اند، ده ها لندی زيبارا که بازتاب

دهنده درد ورنج کرونا است، جمع آوری نموده است. امروز فرصت دست داد تاسری به یکی از مقالات استاد بهانددر مورد انعکاس کرونا در لندیهای پشتو بزنم، استاد بهاند باقلم روان وتصویرسازخود تعداد زیادی از لندیها را جمع آوری وبه خواننده گان خود پیشکش نموده است.من از خواندن این لندیها لذت بردم واینک دوسه نمونه از این لندیها:

تا خو په ما پورې خندلې
چې کورونا شوې اوس دې خېژي فریادونه

که نړۍ ټوله کورونا شي
دیدن د یار مې چې عادت دی وربه شمه

چې نیمه شپه شي تبه سره شي
د کورونا په ناروغ نور راځي دردونه

برای استاد بهاند توفیق بیشتر در راهی که پیش رودارد ، آرزومیکنم.»

بېرته ما د منني په دود داسې ورته ولیکل:

«اسم: آصف بهاند، محل سکونت: ډنمارک،، تاریخ: 30.05.2022

له درانه استاد اکادمیسین کاندید اعظم سیستاني نه مننه چې زما یو له سترګو لویدلی، خو مهم فرهنګي فعالیت ته یې دانشمندانه پاملرنه کړې او په ښو یې یاد کړی دی.

د کورونا وبا له رامنځته کېدو سره سم، د لنډیو د تخلیق په همیشه بهار بڼ کې، د دې وبا انځورول هم پیل شول. ما د نویو لنډیو د راټولولو لړۍ له څو کالونو پخوا پیل کړې ده او د لنډیو په باب د خپلو څېړنو او د نویو راټولو کړو لنډیو لومړی برخه مې د «لنډۍ

او د ثبتولو ستونزه» تر سرلیک لاندې په انلاین بڼه درنو لوستونکو ته وړاندې کړې او په دویمه برخه باندې يې کار روان دی، خو هغه لنډۍ چې د کورونا وبا او له دې وبا نه د رازیږېدلو ستونزو په باب ناخوالې بیانوي، له هماغه پیل نه ما راټولې کړې دي چې شمېر یې تر زرو (۱۰۰۰) لنډیو اوړي، ما کورونا وبا ته ځانګړې شوې لنډۍ په یوه جلا ټولګه کې خوندي کړې دي او ډېر ژر به یې په کتابي بڼه په انلاین ډول لوستونکو ته وړاندې کړم.
له استاد سیستاني نه بیا هم مننه!»

له ټولو خبرو سره ـ سره ما هغه لنډۍ راټولې او خوندي کړې چې یا مې په میډیا کې ترسترګو کېدلې او یا مې د خلکو له خولې اورېدلې؛ لومړی به مې د مقالو په بڼه له خپو توضیحاتو سره، درنو لوستونکو ته وړاندې کولې او دا دی اوس مې د لنډیو د یوې جلا ټولګې په بڼه له یوې مقدمې او خپلو ځانګړو یاددښتونو سره برابرې کړې دي او د درنو لوستونکو ته يې وړاندې کوم. د نورو نوو لنډیو د راټولو په څنګ کې به، په کورونا وبا پورې اړوند لنډیو د راټولولو لړۍ هم روانه وي.

په درناوي
پوهندوی آصف بهاند
هیدرسلیف
ډنمارک
د ۲۰۲۲ ام کال د جون شلمه

# د کورونايي لنډيو له پاره توضيحات او يادداشتونه

د کورونايي لنډيو د ځينو برخو له پاره مې چې کوم توضيحات او يادداشتونه ليکلي دي، په هماغه بڼه يې خپروم، يوازې د هرې برخې يادداشت به د ستورو په اېښودلو سره بېل کړم او په پای کې به زما له خوا ټولې کوروناييي راټولې کړای شوې لنډۍ درنو لوستونکو ته وړاندې کړم:

لنډۍ د پښتو ژبې هغه ځانګړی فولکلوريک ژانر دی، چې د ژوند هر اړخ او هره غاړه په خپله لمنه کې را نغاړي. که ښه وي ـ که بد، که منفي وي که مثبت، که پر چا ښه لګېږي ـ که بد او... لنډۍ يې په خپل ځانګړي قالب کې اچوي او په ځانګړي سينګار سره يې بېرته خلکو او ټولنې ته وړاندې کوي. ډېرې لويې او پېچلې مسألې په خورا ساده او ښکلې ژبه تر خپلو مينه والو پورې رسوي، په لنډ او هنري ډول يې په مخ کې ورته ږدي.

په دې وروستيو کې د چين د «هوبي» ولايت په «ووهان» ښار کې وبا ته ورته يو خطرناکه او وژونکې ناروغي پيدا شوه او اوس هم د يوه ستر خطر په ډول نورو هېوادونو ته د خپرېدو په حال کې ده. د همدې ناروغۍ په باب د خبرونو او له دې ناروغۍ سره د بشريت د مقابلې د معلوماتو د لوستلو په ترڅ کې ځو ځايه داسې لنډۍ په مخه راغلې چې د همدې ناروغۍ يادونې په کې شوې دي. ويونکي يا تخليقونکي يې د دې ناروغي نوم په روان ډول داسې په لنډيو کې انځور کړی دی، لکه ښه له پخوا نه چې په پښتو ژبه کې باب وي. دغه يې ځو بېلګې دي:

پـه کرونا ويروس اخته شې
چې ټول دې پرېږدي، زه دې غيـږ کې ګرځومه

له کرونا مرض نه سخت و
ظالمه ستا په خوله راکړې ځوابونه

پـه کرونا ويروس اخته سې
خيرنه زه دې تر مرګي راوستې يمه

پـه کرونا باندې اخته شې
پر ما دې راوستل د ټول جهان غمونه

کرونا وېروس دې در ميلمه شي
ما ته دې راوستل د ټول جهان رنځونه

د دې نويو لنډيو ټبتول، د لوستونکو تر مخې اېښودل او د کمپيوټر جال ته رسول، يو اړين کار و چې ما تر سره کړ. لکه څنګه چې ما پخوا هم ويلي وو، چې نوې تخليق شوې لنډۍ يو څه وخت ته اړتيا لري چې څومره د خپلو ښکلو انځورونو او تشبيهاتو پر اساس د خلکو زړونو ته لار کولای شي او که همداسې د پيکه توب په دليل، د وخت په تېرېدو سره له خولو لوېږي او له ذهنونو هېرېږي.

*****

په دې وروستيو کې چې کورونا نا روغي ښه په کش کې ده او تقريباً د نړۍ ډېره برخه يې لاندې کړې ده، د پښتو ژبې د فولکلور په يوه ځانګړي ژانر، لنډيو کې يې انعکاس د پاملرنې وړ ډېر شوی دی. که څه هم ما څه موده وړاندې د «کورونا د لنډيو په غېږ کې» تر سرليک لاندې يوه لنډه مقاله وليکله او په هغه وخت کې لاسته راغلي لنډۍ مې په کې خوندي کړې، خو اوس ـ اوس چې د کورونا مرګونې څپې په ټوله نړۍ کې خورې شوې او ډېر خلک ورنه متاثره شول

او ځيني يې د ګور تيارو ته ولېږل، له رواني پلوه يې هم پر خلکو ډېر ژور اثر کړی دی؛ نو د لنډيو د تخليق اندازه هم ورسره ډېره شوې ده.

د پرمختللې ټکنالوژۍ او ميډيا په دې زمانه کې خلک ډېر ژر خپل احساسات او فرهنګي توليدات، د ټولنيزو شبکو له لارې له نورو سره شريکوي. د کورونا په راتګ سره، کومې ستونزې چې د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې رامنځته شوې دي؛ په بېلابېلو بڼو د خلکو د افکارو په آئينه کې انعکاس کړی دی. پښتنو هم د کرونا ناروغي او ورسره اړوند ستونزې، د لنډيو په قالب کې انځور او له نورو سره يې شريکې کړې دي.

زه هم د نويو لنډيو د ثبتولو په لړ کې، چېرې چې کورونا پورې اړوند نوې لنډۍ ګورم، خوندي کوم يې او بيا يې له يوې يادونې ـ تبصرې يا نويو خبرو سره، د يوې مقالې په چوکاټ کې خپلو لوستونکو ته وړاندې کوم.

اوس ـ اوس په ميډيا کې د هغو لنډيو شمېر په ډېرېدو دی چې د کورونا يادونه په کې شوې ده او په رنګارنګ بڼو دا نړيواله بلا يا وبا په کې انځور شوې ده. ما تر خپلې وسې پورې هغه لنډۍ چې ما ته په مخه راغلې دي، خوندي کړې دي، دلته يې له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم او په دې نيامت يې آنلاين کوم چې د کمپيوټر جال ته ورولوېږي او خوندي شي، د خلکو له لوري يې منل او نه منل وخت ته اړتيا لري او د لنډيو په قوت او ضعف پورې هم اړه لري چې خلک يې ساتي که يې هېروي.

دا يوه عادي خبره ده چې په ټولنيز ژوند کې هر ډول منفي يا مثبت څه را څرګندېږي، خامخا د خلکو له لوري په فولکلوري ادبياتو او

يا ليکنيو ادبياتو کې را څرګندېږي او دا کار تر ټولو مخکې د لنډيو په قالب کې راڅرګند شو.

دلته يوازې هغه لنډۍ وړاندې کوم چې د کورونا ناروغي او له هغې نه رازېږېدلې ستونزې په کې انځور شوي وي:

*****

له کورونا نه هم د مندوشا واده جوړ شو، پيل يې درلود، خو پای يې تياره او نا څرګند دی. زموږ په وطن کې ملايانو ويل چې: دا د خدای غضب دی چې پر کفارو باندې را نازل شوی دی، مسلمانانو سره کار نه لري. کله چې د کورونا وحشت ټوله نړۍ لاندې کړه او زموږ وطن ته هم ورسيده او خو تنه يې راڅملول، وروسته له هغه د رسمي او غير رسمي مقاماتو ورپام شو.

اوس چې تقريباً په ټول افغانستان کې خلک ورسره لاس ګرېوان دي او جګړه ورسره پيل شوې ده، نو اړين پرسونل او اړين توکي نه ورته لرو. د ناروغ له پاره اول کلينک نه وي چې هغه پرانستل شي، بيا ډاکتر نه وي، بيا ماسک نه وي، بيا د سا اخيستو دستګاه نه وي، بيا هغه عادي درمل چې ناروغ لږ شانتې اراموي هغه نه وي بيا...

د کورونا له پاره، له واکسين څخه خو هسې هم د مرغۍ شودې جوړې شوې دي چې يا يې په ريښتيا جوړېدل وخت غواړي او يا به اقتصادي چل وي او...

له دې ستونزو سره ـ سره، له کورونا څخه غلې کرنتين رامنځته شو او په ارامتيا سره يې د **لوږې** په نامه يوه سر کښنه روې لُور وزيږېدله. کله چې لوږه وږې شي، چيغې وهي او خوراک يې هم بيوزلي انسانان دي. اوس ليدل کېږي چې د خوږو نشتوالی بيوزله کورنۍ داسې تهديدوي چې په کورونا به شکر وباسي يعنې غم د پاسه غم، ستونزو

باندې ستونزې چې ډېرى خلک يې يا په رواني ناروغيو اخته کړي دي او يا يې عملاً د ګور تيارو ته ورنږدې کړي دي.

عام خلک په هر حالت کې د خپل زړه غم او د ستونزو انځور له خيال او فکر نه راباسي، او د ځينو هنري ژانرونو نه په استفادې سره يې خوندي کوي او د نورو په مخ کې يې ږدي. په دې ژانرونو کې يو ژانر پښتو لنډۍ دي.

لنډۍ د پښتو ژبې يو عجيب، خوندور ا بدلېدونکی قالب دی چې له وخت او زمان سره کولای شي ځان بدل کړي او په خپل چوکاټ کې نويو موضوعاتو ته ځای ورکړي. يو وخت ما (اصف بهاند) د لنډيو په باب په خپل يو څېړنيز اثر (لنډۍ، د ثبتولو ستونزه) کې د لنډيو په باب داسې ليکلي وو:

«پښتو لنډۍ له لومړنيو برياوو، ناکاميوو، خوښيو، مينې، غمونو، دردونو، خوندونو، وصالونو، بيلتونونو او... نه نيولې؛ بيا تر سل ګونو او زرګونو نورو ټولنيزو مطالبو پورې، په خپله لمن کې خوندي کړي دي. د زمانو په تيريدو سره د لنډيو دغه خزانه د هر نسل له خوا داسې بډايه شوې ده، چې اوس نه يوازې د پښتنو د فولکلور يوه وياړمنه برخه ده، بلکې د بشري فرهنګ يوه ستره برخه او لاسته راوړنه بلل کيږي چې عمر يې د اټکل له مخې زرګونو کلونو ته رسيږي.

لنډۍ د پښتو شفاهي ادب د منظومې برخې هغه ډول ته ويل کيږي چې، له ډېرو لرغونو زمانو څخه يې تر موږ پورې يې، د تيرو زمانو او پخوانيو انسانانو خوښۍ او غمونه، برياوې او ناکامۍ، چغې او خنداوې، ساړه او تاوده، او... را رسولي دي. د هر زمان تجربې او انځورونه يې لکه اوسنۍ تکنالوژي، له ځان سره ساتلي دي، ځان يې ورباندې بډاې کړی دی او اوس يې په ټولې امانتدارۍ سره د نوي

نسل په مخ کې ايښي دي. اوسنی نسل هم بايد د خپل ژوند هر اړخيزې تجربې پردې خزانه باندې په لا امانتدارئ سره، د دې رنګين قالب د ښکلاوو په چوکاټ کې، ورزياتې کړي.»

د لنډيو په دنيا کې همدغه قانون او دود اوس هم حاکم دی، سټه هماغه سټه ده، يوازې توري ېنه بدلوي او ورسره پيښې، کرکترونه او واقعيتونه بدليږي، يعنې شته سټه د وخت په تيرېدو او نويو خبرو او پيښو سره، خپلې غوړېدونکې پاڼې بدلوي، مفاهيم او توري رنګ اړوي. د مثال په ډول پخوا به ويل کېدل:

«مينه په تلو راتلو زياتېږي...»

خو د کورونا ستونزې سره وويل شول چې:

«کرونا په تلو راتلو زياتېږي...»

د لنډۍ دا دواړه نيم بيتيان په خپلو وختونو کې د ټولنيز واقعيت منعکسوني دي، خو په لږ بدلو تورو سره. قالب هماغه قالب دی، يوازې د وخت له غوښتنوسره سم يې توري او مفاهيم بدل شوي دي.

خلک له روان ژوند نه خپلې اخيستې د لنډيو په قالب کې له نويو تورو نه په استفادې سره انځوروي او نورو ته يې وړاندې کوي، يا يې د کاغذ پر مخ يا يې د نويو تخنيکي وسايلو پر مټ تر نورو پورې رسوي.

*****

لنډۍ چې د خپل جوړښت له مخې د خپل قالب له چوکاټ سره برابره وي يعنې د نهو او ديارلسو سيلابونو دوه نامتناسب بيتونه يې جوړ کړي وي، زه يې ثبتوم او د خپرولو له پاره يې چمتو کوم.

په ورځني ژوند، څېړني، مطالعې او... کې چې هر ډول لنډۍ ما ته په مخ راشي، زه يې بايد ثبت او خپرې کړم، څو د کمپيوټر په جال کې خوندي شي. لکه پخوا مې هم چې ويلي وو، د خلکو له خوا يې د منلو او نه منلو کيسه او په ټولنه کې يې د عامېدو مسأله د لنډۍ په هنري انځورونو، تشبيهاتو، استعارو او تخيل پورې اړه لري. سمدلاسه بايد خوندي کړای شي، څو له هېرېدو او ورکېدو څخه وژغورل شي.

د لنډۍ د تلپاتې کېدو او ښکلا يو دليل همدا دی چې، هر څه چې په ټولنيز ژوند کې پېښېږي، لنډۍ يې د خپلو اصولو په چوکاټ کې، په خپله لمنه کې رانغاړي او خلکو ته يې په هنري بڼه وړاندې کوي. که داسې وويل شي هم بېځايه به نه وي چې لنډۍ په نړيواله کچه يو بې جوړې او بېسياله داسې ژانر دی چې هر ډول ټولنيز فکر ته په خپل لنډ قالب او ډېر پراخ تېـتر کې ځای ورکولای شي. لنډۍ داسې هنري او شاعرانه تخليق دی چې زموږ د ژبې او ولس نه فنا کېدونکې هنري ادبي وياړ او پانګه جوړوي.

اوس چې ټوله نړۍ د کورونا تر تهديد لاندې ده او په اوسنۍ زمانه کې د بشريت تر ټولو لويه ستونزه ګڼل کېږي او خلک ورنه تښتي، خو لنډيو غبرګ ورته پرانستې ده او د يو نه ماتېدونکي اتل په څېر مبارزه ورسره کوي، کله يې ناخوالې بيانوي او کله ښېرا ورته کوي.

ما د کورنا د رامنځته کېدو له پيل نه دې موضوع ته پام و او د کورونايي لنډيو په ټولولو مې پيل کړی دی.

*****

د لنډيو په پراخ او شنه چمن کې بيا د خلکو د دردنو او دوی باندې د روانو حالاتو يو څه ازغي او ګلان او دردونه د لنډيو په هنري قالب کې انځور شوي دي، چې پر افغان انسان باندې د روانو دردونو او

رنځونو کيسې کوي. هغه دردونه او رنځونه چې په ټوله نړۍ او زموږ په ټولنه کې خلک ورسره لاس گرېوان دي.

زموږ په ټولنه کې د کورونا د ستونزې تر څنګ، نورو ستونزو هم يا نوی سر راواچت کړی دی او يا د کورونا له وېروس سره يې په انډيوالۍ کې د کورونا په څېر وده کړې ده.

زموږ په ټولنه کې کاشکي يوزاې د کورونا د رامنځته کېدو وير وای:

ـ له کورونا سره په جنګ کې تش لاس،

ـ د کرنتين په رامنځته کېدو سره د لوږې ږېروس،

ـ زموږ په وطن کې په دوو پښو روان وېروسونه،

ـ د نيابتي جګړې وېروس چې ټول عمر په کې ښکېل شو، توري افغانان وهي، ګټې وټې يې د نورو دي،

او...

خدايه دا څه چارې راوسوې
پر موږ خو راغلل دلې، دلې وېروسونه

کورونا چا رامنځته کړه او چا زموږ تر مېنې را ورسوله، پر دې به خدای پوهېږي. زموږ په ټولنه او هېواد کې ستونزه دا ده چې چې موږ افغانانو ته زموږ نا پوهی او جهالت هر څه ستونزمن کړي دي، زموږ د نا پوهۍ په وجه زموږ د خپلمنځي تضادونو نه په استفادې سره اسفده جو ګاونډيانو موږ د نيابتي جنګياليو په څېر په خپلو کې، د خپلو ګټو او موخو د تر لاسه کولو په پار جنګوي او دا جګړه دا دي نيمه پېړۍ روانه ده او د جګړې اور زموږ هر څه راسېځلي دي او هر څهيې را ته په خاورو ايرو بدل کړي دي؛ د همدې د ليل له

مخې اوس د نورو ناخوالو تر څنګ زمونږ اقتصاد هم په ډېر خوار دی او د دې جوګه نه دی چې لکه پر مختللو هېوادو نو بّ ځېر په کورنتين کې خلکو ته په کور هر څه ورورسوو.

د همدې ستونزو له امله ډېری خلک د مرګ تر برېده له ستونزو سره لاس ګرېان دي او د غږ اورېدو يې هم ځوک نه شته. اړس خلک هم له فولکلور نه، له لنډيو نه په استفادې سره خپل عږ او درد تر نورو پورې رسوي، که يې ځوک لولي کهيې نه لولي، که يې ځوک اوري که يې نه اوري.

*****

پر نړی باندې د کورونا ناڅاپي يرغل تر ورانونکې سونامي هم وژونکی برید و. انسانانو تر څو چې لږ و ډېر ځان ورسره عادت کاوه، نو يوه د پاملرنې وړ برخه يې د ګور مېلمانه کړل.

سره له دې چې بشريت له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره د دې وژونکې وبا په مقابل کې خپله مبارزه جاري ساتلې ده، خو د پاملرنې وړ څه نه دي شوي او اوس يې لا دويمې ځپې په هغو هېوادونو کې سر را اوچت کړی دی، چې بې احتياطي په کې ډېره شوې ده.

پښتو لنډيو د خپل خوځنده حرکت له مخې د دې وبا روان وژونکی او تباه کونکی حالت انځور کړی دی. د کورونا په باب ما ته چې څومره لنډۍ په مخه راغلې دي او يا مې اورېدلي دي، هغه مې ثبت کړې دي او تر اوسه مې په پنځو برخو کې کې له درنو لوستونکو سره شريکې کړې دي.

*****

لکه څنګه چې د لنډيو په باب زما د څو خپروو شوو مقالو په ترڅ کې وويل شول چې لنډۍ د ټولنيز ژوند د هنداريې په توګه هر څه چې په ټولنه او د خلکو په ورځني ژوند کې رامنځته کېږي؛ په لنډيو کې د خلکو له خوا په هنري بڼه په هماغه يوه قالب کې په بېلابېلو ډولونو انځور کېږي او بېرته ټولنې ته د يوې هنري لاسته راوړنې په توګه وړاندې کېږي.

له تېر څه لږ يوه کال نه راپه دې خوا د «کويد۱۹» په نامه چې کومه وبا په ټوله نړۍ کې خپره شوې ده، خلکو په لنډيو کې په رنګارنګ ډولونو انځور کړې ده.

دې وبا له رامنځته کېدو سره سم، ټول بشريت ته د ژوند په ډېرو برخو کې ستونزې رامنځته کړې دي. دا ستونزې په پښتو لنډيو کې په بېلابيلو بڼو انځور کړاى شوې دي. د کورونا له پيليدو سره سم چې څنګه يې په لنډيو کې سر راښکاره کړ، ما په يوه جلا پاڼه کې، په کورنا پورې تړلې لنډۍ ټولولې او له خپلو تبصرو سره مل مې خپرولې.

اوس چې د کورنا دويمې څپې په لامرګونې بڼې سر را اوچت کړى دى، په لنډيو کې يې انځورېدلو هم رنګ بدل کړى دى، ورنه رازېږېدلې ستونزې يې هم په نوې بڼه ليکل شوې او ترسيم شوې دي.

*****

اوس چې د کورونا وبا د دويمې څپې وحشت ټوله نړۍ تهديدوي، ټولو خلکو، په تېره زمونږ هېوادوالو ته اړينه ده چې ټولې طبي لارښونې په جدي ډول په نظر کې وساتي او ټولې هغه لارښونې د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې ترسره کړي چې طبي مقامات يې لارښونه کوي.

تېرکال همدا وخت د کورونا سرکښه او وحشي بڅې خپل وحشت پيل کړ او د دې وحشت په پيل کې د نړيوالو، په تېره زمونږ د هېوادوالو، له دې وبا سره د جګړې تجربه يا هيڅ نه درلوده او يا دا تجربه ډېره ضعيفه وه او خلکو دومره پاملرنه نه ورته کوله. په هغه وخت کې به ځينو هوښيارو کسانو د پښتو ژبې دا متل هر چېرې په تکرار سره خلکو ته اوراوه:

**«دا د پټي سر دی**
**پټی وروسته سورور دی»**

خو خلکو دا موضوع دومره جدي نه ګڼله، چا به دومره سر پسې ګرځاوه، ان تر دې چې ځينو خلکو به ويل:

**«دا درواغ دي، د دې خبروترشا نور پلانونه دي، دا هسې خلک غولوي او...»**

خو اوس مالومه شوه چې دا موضوع درواغ نه، بلکې ريښتيا دي او د سورور پټي، سورروه برخه او ستونزې د کورونا د دويمې څپې په راتګ سره پيل شوه. وبه ګورو چې د پټي په سورروه برخه کې کورونا له چا سره څه کوي؟

د کورونا د دويمې څپې له پيل سره سم چې کومې لنډۍ د کورونا وبا د ستونزو په رامنته کېدو سره تخليق شوې دي او څومره چې ما ته په مخه راغلې دي، ما خوندي کړې دي.

*****

د لنډيو د مقالې په دې برخه کې بيا د کورونا د ناوغۍ ستونزه ده او په لنډيو کې يې انعکاس، خلک څومره له دې ناروغۍ نه په عذاب دي او څنګه يې د خپل زړه خبرې او ورځنۍ ستونزې د لنډيو په قالب کې نورو ته وړاندې کړې دي.

کومې لنډۍ چې د کورونا د ستونزې په برخه کې ما راټولې کړې دي، دا خو د ټولنې د هغه لوستي قشر له لوري وړاندې شوې دي چې ټولنیزې میډیا ته لاسرسی لري، په کارولو یې پوهېږي او له دې لارې خپلې لنډۍ تر نورو پورې رسوي؛ د ټولنې د نورو اقشارو په منځ کې هم حتماً دې ته ورته یا تر دې ښې او هنري لنډۍ به تخلیق شوې وي چې تر اوسه موږ ورباندې خبر نه یو، کېدای شي څوک پیدا شي چې د عامو خلکو له خولې نه یې ولیکي او د چاپي یا برېښنایي خپرونو له لارې یې له نورو سره شریکې کړي.

*****

په دې وروستیو کې، په کورونا ناوغۍ پورې اړوند لنډۍ یو څه ډېرې شوې دي. په دې ورځو کې چې په نړیواله کچه کورونا ښه پوره خپره شوه او لا نورې بچې یې هم وزېږول چې د انګلیسي کورونا او افریقایي کورونا نومونه ورکړل شول؛ د همدې له مخې په پښتنو کې له همدې ویرې یا د دې وبا له ډاره رنګارنګ عکساعملونه رامنځته شول او د هغو په پایله د نورو شعري ژانرونو تر څنګ، د لنډیو په قالب کې هم دا ستونزې په پریمان پیمانه انځور او په میډیا کې له ټولو خلکو سره شریکې شوې، ما ته هم څومره چې په مخه راغلې دي، خوندي کړې مې دي.

*****

## د کرونا وقايوي ټپې

د کرونا ظالم له لاسه / د ورځې ديرش ځله لاسونه پريمينځمه
د کرونا ظالم له لاسه / زه دروازې اوس په څنګلو خلاصومه
د کرونا ظالم له لاسه / له کوروتی نشم په کور کې ايسار يمه
د کرونا ظالم له لا سه / خوله او پوزه مې په ماسک باندې ترمه
د کرونا ظالم له لاسه / هره لمحه زه له اوبو نه ګوټ کومه
د کرونا ظالم له لاسه / اوبه د مالګې هره ورځ غړغړه کومه
د کرونا ظالم له لاسه / زه مې يارانو ته اوس لاس نه ورکومه
د کرونا ظالم له لا سه / مينه شوه خلاصه څوک يو بل نه ښکلوينه
د کرونا ظالم له لاسه / د مکتبونو دروازې ترلې دينه
د کرونا ظالم له لاسه / پارکونه تش شول بند يې کړل ټول هوټلونه
د کرونا ظالم له لاسه / زه اوس بازار ته د دستکشو سره ځمه
د کرونا ظالم له لاسه / زه سترې مشې په څنګل باندې کومه
د کرونا ظالم له لاسه / زه خپله الله ته شپه او ورځ زارې کومه
د کرونا ظالم له لاسه / د زړه د پاسه مې پولۍ ولاړې دينه

---

ډاکتر صاحب لطيف ياد په جلا وطنۍ کې هغه فعاله فرهنګي دی چې د فيسبوک له ټولنيزې شبکې نه تر ټولو نورو افغانانو ډېره مثبته استفاده کوي او د خپلو ملګرو له پاره هره ورځ داسې اړينې خبرې ليکي او تر دوی پورې يې رسوي چې ډېر هسلنه يې نوی او په زړه پورې معلومات وي.

په همدې نږدې ورځو کې مې د ياد صاحب په پاڼه کې د کورونا په باب يو څو لنډيو ته پام شو، هغه مې ولوستې او د لنډيو په پای کې

يې د بل چا د فيسبوک داسې يو لينک ايښی و چې هلته يو پښتون سندرغاړي يو څو کورناېي لنډۍ په خپل ښکلي غږ سره زمزمه کولې، ما هم دا څو لنډۍ چې ما ته نوې وې، ورنه راخوندي کړې:

کرونا په تلو راتلو زياتيږي
شيرينه ياره مه راځه نه به درځمه

د کورونا مرضه ورک شې
به ما دې بند کړه د سورکو شونډو سرونه

کورونا راغله لارې دوې شوې
جانانه خپل غم دې کوه خپل به کومه

دغه راز د ياد صاحب په پاڼه کې يو څو لنډۍ د يو انځور په ډول ديزاين شوې وې او هغه د لنډيو انځور هم ياد صاحب په خپله پاڼه کې جگ کړی و، د انځور لنډۍ دا دی:

*****

څنگه چې ښکاره ده: لنډۍ د پښتو فولکلور هغه ژانر دی چې په يو ډېر مختصر او لنډ قالب کې د ټولنې د روان ژوند بېلابېلې برخې په هنري بڼه انځوروي او بېرته يې د خلکو مخکې ږدي. اوس چې د کورنا ستونزه يا کوويد ۱۹ ويروس د خپل يرغل دريم پړاو پيل کړی دی، او نوې بڼې يې د انگليسي کورونا، افريقاي کورونا او هندي کورونا په نامه پېژندل شوې دي، حتی د نړۍ پرمختللي او د پياوړي اقتصاد لرونکي هېوادونه يې هم له ستونزو سره مخ کړي دي، هره ورځ نوې داسې ستونزې رامنځته کېږي چې له منځه وړل او له مخې ايسته کول يې نورې ستونزې زېږولې دي. د ساري په ډول دغه لنډ ريوټ وگورئ چې اروپايان له دومره امکاناتو او اقتصاد سره ـ سره، له څه ډول ستونزو سره لاس گرېوان دي:

«... اروپا کې د کورونا وبا دربیمه څپه پیل شوې ده.

د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو کې د کرونا له امله د خلکو مړینه زیاته وه.

ایټالیا کې له ۱۰۶ زرو ډېر کسان مړه شوي، فرانسه کې ۹۳ زره، جرمني کې ۷۵ زره، او اسپانیا کې بیا ۷۳ زره کسان له دغه ویروس مړه شوي دي.

د شمېرو له مخې اروپا کې له هرو سلو ۱۲.۹ کسان واکسین شوي دي.

بریتانیا کې بیا دغه کچه هرو سلو کې ۴۴.۷ کسانو او امریکا کې ۳۷.۲ کسانو ته رسېږي.

د فرانسې د روغتیا وزیر ویلي د جمعې په ورځ ۴۰۰ زره کسان په دغه هېواد کې واکسین شوي چې دغه شمېره بریتانیا کې د ورځني واکسیناسیون له کچې ټیټه ده.

د اروپايي ټولنې د درملو ځانګې د جمعې په ورځ د کرونا واکسین تولید په دریو شرکتونو په هالنډ او آلمان کې تایید کړ.

تمه کیږي دغه درې شرکتونه د فایزر واکسین تولید کړي او یو بل شرکت په سویس کې د موډرنا واکسین د تولید لپاره تایید شوی دی.

رومانیا د تیرې شنبې او یکشنبې په ورځ په یو شمیر ښارونو کې د تګ راتګ د مخنیوي ساعتونه مشخص کړل. اوکراین کې هم تیره ورځ په ۲۴ ساعتونو کې د نویو پېښو رکارډ له ۱۸۱۳۲ قضیو سره مات شو.

جرمني تیره اونۍ په ورځني ډول له ۲۰ زرو د زیاتو قضیو رکارډ ته ورسېد او له یکشنبې ورځې راهیسې دغه هېواد ته د بهرنیو وګړو په الوتنه کې دا شرط ولګول شو چې د کرونا ازموینه یې باید په هماغه هېواد کې منفي وي.

په فرانسه کې هم په ورځني ډول پر کرونا ویروس د اخته کېدونکو شمېر ۴۵۰۰۰ او د هغو کسانو شمېر چې د روغتون د ځانګړې پاملرنې خونو کې بیستر دي ۴۷۰۹ کسان اعلان شوي دي.

دغه شمېرې تېر منۍ د کورونا د مخکینۍ څپې له اوج سره برابرې دي.»

دا ستونزې په لړ و ډېر توپیر سره زمونږ په ټولنه کې هم شته او خلک د کورونا ویروس ستونزو سره د مخامخ کېدو په وخت کې کله، له دې ویروس نه رازېږېدلې ستونزې د لنډیو په قالب کې انځوروي او په میډیا کې یې له نورو سره شریکوي.

*****

## یو څو لاربښوونې او څو نوې کورونایي لنډۍ:

ډاکتر بهیج عثماني په خپله فیسبوک پاڼه کې د روان کال د اپریل په اومه نېټه (۲۰۲۱/۰۴/۰۷) د کورونا ناروغۍ د مخنیوي او ورکاوي په برخه کې داسې مسلکي لاربښونې کړې دي:

«کرغېړنې کرونا یو ځل بیا خوله خښه کړې ده. که چېرې فکر کوئ پر کوویډ ۱۹ اخته یئ څه باید وکړئ؟

**لومړی:** په هېڅ توګه مه وارخطا کېږئ. د ډار هېڅ خبره نشته. تاسو به سل پر سلو رغېږئ او له پخوا به لا د ژوند له خوږو خوند اخلئ. ستاسو لوړه روحيه او مورال درسره مرسته کوي چې هرې ناروغي ته ماتې ورکړئ. کوويډ ۱۹ خو ډېره عادي ناروغي ده، زه داسې خلک پېژنم چې پر خپله لوړه روحيه او د ځان د تلقينولو له لارې يې د سرطان ناروغي ته ماتې ورکړې ده .

**دويم:** ځان په يوه ګوښې کوټه کې قرنطين کړئ. هڅه وکړئ داسې کوټه انتخاب کړئ چې د پرانيستلو وړ کړکۍ ولري چې په خونه کې تازه هوا وچلېږي. که خونه خپل تشناب ولري بېخي ښه خبره ده او که په کور کې يو تشناب وي بايد د ضرورت له پوره کولو وروسته د ټول تشناب پاکولو ته جدي پام وکړئ.

دريېم: ستاسو د خدمت لپاره بايد د کورنۍ تر ټولو ځوان او له روغتيايي پلوه غښتلی کس انتخاب شي. هغه بايد خواړه د دروازې د باندې تاسو ته کېږدي. له ډېر شديد ضرورت پرته هېڅوک بايد خونې ته درنشي.

**څلورم:** اوبلن او ښه خواړه تر ټولو ډېر ګټور او ضروري دي. د سبزيجاتو ښوروا، يخني ښوروا، د شيدو چای چې يو څه تازه ادرک ولري. هر ډول خام او پاخه سابه ګټور دي. هر ډول مېوې ګټه کوي. هڅه وکړئ چې د مېوې د جوسو يا اوبو پر ځای ټوله مېوه وخورئ .

**پينځم:** که په انګړ يا د بام پر سر څوک نه وي. تر شنه اسمان لاندې ناسته ډېره ګټوره ده. لمر ته کېناستل چې پر مخ، لاسونو، پښو او بدن مو لمر ولګېږي ګټه کوي. خو پام مو وي چې په ورځ کې نيم ساعت لمر ته کېناستل کفايت کوي.

**شپږم:** تل د خپلو ګوتو، نوکانو، شونډو او د پوزې د څوکې رنګ ته متوجه اوسئ که چېرې يې رنګ شين بخن شوی و، عاجل د اکسيجن

د ډېبي غم وخورئ او يا ځان روغتون ته ورسوئ. بيا هم د وارخطايي خبره نه ده تاسو به ژر ښه شئ.

**اووم:** په خونه کې قدم وهئ او که په ورزش روږدي يئ کولای شئ سپک ورزش وکړئ مګر هېڅکله ځان ستړيا ته مه ورکوئ.

**اتم:** کله مو چې تبه نه وه، په ترمو اوبو لامبئ. لمبېدل او د ځان پاک ساتل ستاسو د روحيې له ښه کېدو سره مرسته کوي .

**نهم:** د تبې او درد لپاره له عادي پارسټامولو پرته بل هېڅ مه خورئ. هېڅ ډول انتي بايوتيک مه خورئ. تاسو کولای شئ د شديد درد او تبې لپاره هر شپږ ساعته وروسته يو پارسټامول وخورئ.

**لسم:** که په کور کې اوکسي ميټر ولرئ ډېره ښه خبره ده. تل په بدن کې د اکسيجن مقدار ګورئ .

**يوولسم:** له خپلو دوستانو او ملګرو سره پر ليکه اوسئ، کيسې او ښدارونه کوئ. ځان بوخت ساتئ، کتاب لولئ، تلاوت کوئ او که تبه او درد مو نه درلود لمونځ کوئ. دا کارونه مو له ذهني سکون سره ډېره مرسته کوي.

**دوولسم:** د هر چا خبرې او مشورې مه اورئ. يوازې له يوه شناخته ډاکټر سره په اړيکه کې اوسئ او د هغه له سپارښتنو سره سم چلن کوئ .

**ديارلسم:** که ستاسو د ژوند ملګری يا ملګرې هم پر کوويډ اخته وي کولای شئ په يوه خونه کې واوسېږئ او جنسي اړيکه ولرئ. هغه خلک چې د پرېشانيو او سختيو پر مهال جنسي اړيکو ته پناه وړي او ځان آراموي ممکن د کوويډ ۱۹ په بهير کې يې جنسي اړيکې ته تر بل هر وخت ډېر زړه وشي. که ستاسو د ژوند شريک پر کوويډ

اخته وي کولای شئ په ډاډه زړه خپله دغه اړتیا پوره کړئ. مګر که د ژوند شريک مو روغ وي او پر کوويډ ۱۹ اخته شوی نه وي تر هغو چې تاسو روغ شوي نه يئ هڅه وکړئ جنسي اړيکه ونه نيسئ.»

*****

د کورونا وبا له رامنځته کېدو سره سم، بشريت د دې وبا پرضد مبارزه پيل کړه، کورونا هم خپل کار په پټه داسې کاوه او کوي يې چې پرته له دې چې څوک پرې پوه شي، نوي مضر بچيان يې وزېږول چې د انګليسي، افريقاي او هندي کورونا نومونه يې خپل کړل او د بشريت له پاره يې نوې ستونزې او سرخوږی پيدا او په میلیونو خلک يې د ګور د تيارو ميلمانه کړل.

اوس د کورونا د دريمې څپې پښه افغانستان ته هم وررسېدلې ده، وبه ليدل شي چې په کورونا ستونزې پورې اړوند د خلکو د پوهې کچه په کوم برید کې ده او څنګه کولای شي چې له دې نه ليدل کېدونکي دوښمن سره مبارزه وکړي.

لنډۍ د خپل بدلېدونکي او بهاندې ځانګړنې له مخې په ټولنه کې دا رامنځته شوې سوتونزې په خپلې لمن کې را واخیستې او پر خلکو باندې راخپرې شوې ستونزې يې په خپل ځانګړي چوکاټ کې خوندي کړې، په خپلو ښکلو انځورونه باندې يې وپسوللې او ببرته يې خلکو او ټولنې ته وړاندې کړې.

*****

له کورونا ناروغۍ راپیدا کېدونکې وېرې، داسې سرې ځپې چې خپله ناورغي به يې دومره و نه ځپي. د کوید ۱۹ ناروغۍ له رامنځته کېدو وروسته ځينو خلکو سره، کورونا پورې اړوند دوه ډوله تشويش رامنځته شوی دی:

ـ نه ویل کېږي ناروغه اوسم،

ـ که په راتلونکو کې د کورونا په ویروس ولړل شم، څه به کوم؟

د نه روغتیا ډار هغه وخت یو کس ته پیدا کېږي چې له یوه داسې نالیدلی خطر سره مخ شي چې له هغه سره د مقابلې امکانات هم یا ډېر لږ وي او یا هېڅ نه وي. په اوسني وخت کې یې تر ټولو غوره بېلګه د کوید ۱۹ ناوروغي ده، دا ناروغي هر څېرې کېدای شی پر هر چا باندې یرغل وکړي، ځکه یې ډار تل له خلکو سره شته او ډېر ځلې داسې هم کېدای شي چې مخکې تر دې چې په کوید ۱۹ ویروس ولړل شي، ځینې کسان د هغې ډار له پښو وغورځوي. دا داسې حالت دی چې ډېر ځلې یې ډاکتران هم درملنه کې پاتې راځي.
د کویو ۱۹ ناروغۍ پورې اړوند تشویشونه او دا دوه لنډۍ:

د کورونا له ډار سرسام شوم
داسې څه راغلل چې مې نه کول سوچونه

ولې به نه ژاړمه خلکه
کورونا راوستل د ټول عالم ویرونه

هغه کسان چې په کوید ۱۹ ویروس نه وي لړل شوي او دوی یې تشویش کوي، له رواني پلوه یې لاندې کوي او د بدن د ببځواکۍ په پایله کې، کېدای شي ډېر ژر په دې وېروس ولړل شي.

په ټولنه او خلکو کې د همداسې ستونزو شتوالی، د خلکو له خوا د لنډیو په قالب کې ځلېدای شي.

*****

د لنډیو د مقالو په ځینو برخو کې ویل شوي وو چې لنډۍ د ټولنیز ژوند د هنداري په توګه هغه مسایل منعکسوي چې د ټولنې په روان

بهير کې په عيني ډول شته وي، که ښه وي که بد، که منفي وي که مثبت هغه د لنديو په همدې لنډ او هنري چوکاټ کې په هنري ډول بېرته ټولنې او خلکو ته په مخ کې اېښودل کېږي.

په اوسني ژوند کې کورونا داسې ستونزه ده چې د نړۍ په هېڅ برخه کې به څوک ورنه خلاص نه وي، توپير يې دا دی چې چېرې لږه وي او چېرې بيا ډېره او داسې تباه کونکې چې هره ورځ په زرګونو انسانان د ګور تيارو ته لېږي. بشريت هم غلی نه دی او له دې بلا سره خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.

پښتو لنډۍ همدا بلا هم له ټولو ستونزو او منفي اړخونو سره څرنګه چې ده، هماغسې يې انځور کړې او بېرته يې خلکو او ټولنې ته ورپېژندلې ده.

*****

په افغانستان کې د کورونا وبا د دريمې څپې له محسوسېدو سره سم، رسمي مقاماتو د خطر زنګونه وغږول او عامې روغتيا وزارت د خپلو اجرأتو په لړ کې، په ځينو ولايتونو کې تعليمي مؤسسې د څه مودې له پاره وځنډولې، خو له نورو اړوندو وزارتونو سره يې د نه همغږۍ حالت زدکونکي، محصلين او کورنۍ يو څه سرګردانه کړې.

د کورونا دريمه څپه تر نورو دا وژونکې او خطرناکه ګڼل شوې ده، د همدې خطر ليدل او محسوسېدل سمدلاسه د لنډيو په قالب کې په رنګارنګ ښو انځور شوي دي.

*****

زموږ په هېواد افغانستان کې کورونا، د خلکو د ناپوهۍ او ګڼو نورو ستونزو له امله، ښه لو ګډ کړی دی.

څوک يې ټوکي ګڼي، څوک د کفارو دسيسه ورته وايي، د ډېرو خلکو اقتصاد تر دې کچې ټيټ دی چې مجبوراً د احتياط له دايرې نه وزي، رسمي مقامات له کورنا سره د مبارزې پر ځای له وسلوالو مخالفينو سره لاس ګرېوان دي او...

دغو ټولو ستونزو لاس سره يو کړی دی او د کورنا د لا خپرېدو له پاره يې زمينه برابره کړې ده؛ ځکه مو هره ورځ ښکاره لړشمېر او پټ ګڼشمېر هېوادوال د ګور تيارو ته لېږل کېږي.

په دې نږدې ورځو کې زموږ يو نالېدلی اشنا له کابل نه بېرته اروپا ته راستون شوی، هغه د خپل سفر د رپوټ په يوه برخه کې د کورونا په باب داسې ليکلي دي:

«رېښتيا هم کورونا دومره ډارونکې وه چې دوست له دوسته په تېښته وو، بس ځان په ځان خواري وه. دا چې وبا دوامداره شوه خلک کورونو کې په تنګ شول؛ څوک له نېستۍ او څوک له نورو ناچاريو. ځينې کسان چې د ژوند ناخوالو ځپلي وو، په وبا ری نه واهه! زياترو ويل چې خدای د ژوند او مرګ نېټې ټاکلي، چې پوره شوه بيا نو بله نه کېږي. څه خندونکي استدلالونه هم وو. يوه دا وه چې کورونا تر ځانمرګي ښه ده، سړي ته د شطرنج په ژبر لومړی کشت ورکوي چې ځان وژغوري - ځانمرګو بريدونو کشت نه درلود.»

د کورونا وبا په دغسې بد پړاو کې د خلکو را ايسارېدل ځينې هېوادوال اړ ايستلي چې د کورونا ستونزې د لنډيو په قالب کې وليکي او تر نورو او راتلونکو نسلونو پورې يې ورسوي.

*****

دا يو منلی حقيقت دی هغه څه چې په ورځني ژوند کې رامنځته کېږي، په لنډيو کې هم انځورېږي او په هنري ښه بېرته خلکو او

مخاطبينو ته وړاندې کېږي. د کورونايي لنډيو لړۍ څکه توده ده او خلک يې تخليقوي، چې د کورونا وبا له څه باندې يو نيم کال راپه دېخوا په ټوله نړۍ کې خلکو ته بېشمېره ستونزې رامنځته کړې او او په نړيواله کچه يې د خلکو د ژوند حرکت کې بدلون رامنځته کړی دی، د کورونا نوې بڼې رامنځته شوې دي او د کورونا وبا د هرې نوې بڼې له رامنځته کېدو سره نوې ستونزې هم رامنځته شوې دي.

د چين له وهان ښخه د کورونا له خپرېدو وروسته په انګليس. افريقا، هند، ويتنام کې نوې راپيدا شوې کوروناوې، هرې يوې نوې بڼې او ځانګړنې درلودې. دا دی اوس په ايتاليا کې د کورونا «دلتا» نومې بڼه هم پېژندل شوې ده او د نورو هېوادونو سره جوخت يې پښه افغانستان ته هم رسېدلې ده. د کورونا د هر ډول له پېژندنې سره بشريت ته نوې ستونزې او نوې دندې ورله غاړې شوې دي.

دې نوو کوروناوو، نوې ستونزې رامنځته کوې دي او دې ستونزو په پښتو لنډيو کې ځان راښکاره کړی دی. کېدای شي د کورونا وبا ستونزو پورې اړوند د لنډيو لړۍ نوره هم لکه کورونا وبا پسې وغځېږي.

*****

په نړۍ کې د کورونا رامنځته کېدل او خپرېدل د بشريت له پاره په يوې لويې ستونزې او غميزې بدله شوې ده. دا داسې ستونزه ده چې د نړۍ په لر او بر کې هره ورځ په زرګونو انسانان تر ستونې تېروي او اوس چې د کورونا «دلتا» بڼه زموږ هېواد افغانستان ته هم رسېدلې ده، د نور زيات خطر او تلفاتو امکانات شته دي او له بده شامته چې زموږ د خلکو د پوهې کچه ډېره ټيټه او د خلکو او دولت امکانات هم په نشت حساب دي؛ وبه ګورو چې څه کېږي.

ځومره چې د کورونا تلفات ډېرېږي او پر خلکو باندې یې فشار ډېر محسوس وي، د خلکو د غږ یا چیغې د منعکسولو تر ټولو لومړنی ادرس او وسیله پښتو لنډۍ دي چې د دې قالب په وسیله خپل غږ او احساسات تر نورو پورې رسوي.

*****




د لنډیو د بحث په دې برخه کې خبره پر څو کوروناىي لنډیو او د یو تن پر نظریاتو راڅرخي. د دوه زره یویشتم کال د جولای پر دریمه مې چې فیسبوک خلاص کړ، څو کوروناىي لنډۍ په مخه راغلې، هغه څه چې زما په کاروو. دا چې څه ډول لیکل شوې وې، خو ما ته نورمال ښکاره نه شوې، ومې لوستلې او کاپي مې کړې، څه تخنیکي شیان مې چې زده وو، هغه مې پرې تطبیق کړل.

دا لنډۍ ښاغلي اورنګ مختار په خپله فیسبوکپاڼه کې انلاین کړې وې. د دې لنډیو په ځینو برخو کې که ځینې کلمات لکه «کرونا» (کورونا) که دوه هجا تلفظ نه شي او لکه اصلي بڼې غوندې درې هجا تلفظ شي، نو یوه هجا ډېرېږي او د لنډۍ په شکلي جوړښت کې ستونزه رامنځته کوي. دا یې دوې بېلګې دي:

زما د يار ټيسټ مثبت وخوت
کرونا نيولی، اکسيجن له کومه کړمه

د ځلمي دنګ قامت کړوپ شوی
کرونا ظالمې يې پلاز مور وژلي دينه

دلته د لومړۍ لنډۍ په دويم نيم بيتي کې «کرونا» (کورونا) چې درې هجا ده، بايد د دوو هجاوو په بڼه تلفظ شي، که د دريو هجاوو په اصلي بڼه تلفظ شي، څوارلس هجاوې ورنه جوړېږي چې د لنډۍ له اصولو سرغړونه ده او سکته پکې راځي. دغه راز د دويمې لنډۍ په دويم نيم بيتي کې د «کرونا» (کورونا) کلمه کې د هجاوو عين کيسه ده.

تر دې وړاندې بله ستونزه دا ده چې په فيسبوک کې د دې لنډيو انلاين کونکی ښاغلی اورنګ مختار د لنډيو د ژانر د تعريف او اصولو خلاف، ځان د دې لنډيو مالک ګڼي او وايي چې دا ما خپله تخليق کړې دي او زما خپلې لنډۍ دي. ما د فيسبوک د مسنجر له لارې ورسره پر همدې ستونزې باندې سوال ځواب کړی دی، کټ مټ يې دلته رااخلم، قضاوت يې پر لوستونکو:

**آصف بهاند:**

«ښاغلي اورنګ مختار ته سلامونه!

هيله ده هر څه ښه وي.

د کورونا وبا له پيدا کېدو سره سم چې کوروناي لنډۍ خلکو تخليق کړې، ما يې راټولول پيل کړي دی او تر اوسه مې تر درې سوو لنډيو زياتې راټولې او له خپلو يادداشتونو سره مل مې د مقالو په بڼه خپرې کړې دي.

تاسو پرون په خپله فیسبوک پاڼه کې څو کوروناییي لنډۍ پورته کړې وې، چې زما له پاره جالبې وې، که د دې لنډیو په باب معلومات راته ولیکئ چې له کومو پتو مو راټولې کړې دي او یا مو له خلکو اورېدلي دي؟

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!»

**اورنګ مختار:**

«سلام بهاند صاحب هیله ده جوړ وې هو لنډۍ مې خپرې کړې او ټولې لنډۍ زما خپل تخلیق او کاغذ پیچ وې چې بیګاماښام مې تازه جوړې کړې ـ که څه خبره وه زه خدمت کې یم.»

**آصف بهاند:**

«د لنډیو په تعریف او پېژندنه کې یو اصل دا دی چې: «لنډۍ د خلکو مال دی او څوک یې خپل ملکیت نه شي ګڼلی» تاسو چې دا لنډۍ خپلې ګڼئ، د لنډیو د پېژندنې د پاسني اصل په باب څه نظر لرئ؟»

**اورنګ مختار:**

«هو نظر مو معقول او کتابي دی او لنډۍ د خلکو مال دی تاسو پوښتنه کړې وه ما ځواب درکړ خو دا باید ومنو چې دغه مشترک مال یا فلکلور چې یواځې پښتانه ترې برخمن دي حتما یو تخلیق کوونکی لري او زماپر فیسبوک خپرې شوې لنډۍ ما تخلیق کړې ممکن یوه میاشت وروسته ولسي شي او څوک یې په اسانۍ راسره و نه مني چې زما دي لسګونه نورې لنډۍ مې پر بیلابیلو موضوعاتو جوړې کړې اوس راځنې ورکې دي.»

**آصف بهاند:**

«زه ستاسو نظر ته درناوی لرم،

فولکلور پېژندونکي پر دې نظر ټينګار کوي چې لنډۍ د يو شخص نه، بلکې د ټولو خلکو مال ګڼل کېږي او کېدای شي تر تاسو مخکې بل چا په کوم ځای کې همدا لنډۍ ويلې يا تخليق کړې وي.

کورونا وبا پورې اړوند کومې لنډۍ چې تاسو خپرې کړې دي، زه يې له خپلو خبرو سره د «کوروناېي لنډۍ» په درويشتمه برخه کې د ماخذ په ښودلو سره خپروم.»

**اورنګ مختار:**

«ټولو خبرو کې درسره موافق يم خو له ما مخکې دا لنډۍ په دې بڼه هيچا ندي ويلې که کومه بيلګه مو پيداکړه خوښ به شم که راسره شريکه يې کړئ د کرونا په اړه به لنډۍ ويل شوي وي خو له دې سره په تفاوت سره.»

**آصف بهاند:**

«دا ډېره ستونزمنه ده چې په نړۍ کې د دومره ډېرو پښتنو تخليق کړو لنډيو نه دې څوک داسې ژر خبر شي، هغه لنډۍ دې ثبت کړي او تر نورو پورې دې ورسوي، که دا کار شوی وای، بيا مو کولای شوای چې د کورونا په باب د نورو پښتنو له تخليق کړو لنډيو سره ستاسو انلاين شوې لنډۍ مقايسه شي او بيا حکم وشي چې ستاسو انلاين کړای شوې لنډۍ نورو خلکو تخليق کړې دي، که نه.

بله خبره دا ده چې:

په دې کې زه شک نه کوم چې دا لنډۍ به تاسو نه وې تخليق کړې، تاسو به دا تخليق کړې وي او دا کار د لنډيو پر سترې او زرينې

خزانې باندې د ځو نورو لنديو ورزياتول دي؛ خو په لنډيو پسې خپل نوم ليکل او يا د شخص په نامه لنډۍ ثبتول سم نه دي.
بريا مو غواړم!»
دا هم د ښاغلي اورنګ مختار له فيسبوکپاڼې نه را اخستل شوې لنډۍ چې زه يې پرته له لاس وهنې لوستونکو ته په مخکې ږدم:

له کورونا نه د ځان ساته
که پرې اخته شوې ژوند به خوند نه درکوينه

چې ماسک دستکش ورسره نه ول
غيږه ورنکړې کرونا ويروس لرينه

هلک په ښار کې کرونا شو
د کلي خلک ټول وبا نيولي دينه

زما اشنا ډير سر تمبه و
ويروس يې راوړ کلی کورتبې کوينه

زما د يار ټيسټ مثبت وخوت
کرونا نيولی، اکسيجن له کومه کړمه

د ځلمي دنګ قامت کړوپ شوی
کرونا ظالمې يې پلاړ مور وژلي دينه

خدايه کرونا نوره کړې ورکه
چې پرنجی راشي له کوټې منډې و همه

که کرونا کې غاړه درکړم
بې غوره ياره راته مړ نشې مينه

زما اشنا چې کرونا و

پـه قرنطين کې به ترۍ ليرې ګرځيدمه

ها پخوانۍ مينه د نشته
کرونا ويروس دې په زړه جوړ کړل تور داغونه .

په ډيټول دواړه لاس سم مينځه
ته به ترې جوړ شې ما به تورې خاورې خورينه

زما د پاسني وروستي پوست نه تر شلو ساعتونو پورې د ښاغلي اورنګ مختار ځواب او بله خبره راښکاره نه شو، ما هم نور پرېښود.

*****

د کورنايي لنډيو تخليق ځکه په کش کې دی چې د کورونا نوي ډولونه او نوي بچيان راغلي او خلک يې په تکليف کړي دي، ځکه خلک د خپلو دردونو، ويرونو او ستونزو بيان د لنډيو په ژبه کړی دی.

*****

زموږ پر خلکو او ټولني باندې وروستيو سياسي نظامي بدلونونو ژور اثر کړی دی، د ځينو مثبتو بدلونونو تر څنګ، يو څه داسې ستونزې هم زامنځته شوې دي چې زغمل يې ډېر ستونزمن او حتی نا شوني دي لکه د لوږې سونامي.

لوږې او وزګارتيا خلک داسې حالت سره مخ کړي چې نه يې کورونا په ياد ده او نه يې نورې ناروغتياوې او ټولنيز مرضونه، خو له دې سره ـ سره کله ـ کله خلک يوه نيمه داسې لنډۍ تخليقوي چې د کورنا وبا يادونه په کې شوې وي.

*****

نړيوالو اټکل کړی و چې کورونا وبا دومره خلک وخوړي، په خپټه به مړه وي او نوره به غلې شي. دغه راز څه د خلکو احتياط او څه

د واکسينونو ګټورتيا به يې يو څه مخه ډب کړي؛ خو اوس ليدل کېږي چې په ريښتيا لکه وحشتناکه بلا، دې وبا يو ځل بيا ځان ښورولی دی او څه خطرونه يې د نړۍ اوسېدونکو ته پېښ کړي دي. د کورونا وبا شتوالي، کله ارامېدل او کله بيا ښورېدل او بشريت ته خطر پېښول سبب شوي چې انعکاس يې په پښتو لنډيو کې تل جاري وي. همداسې چې خلکو د کوروناييٍ لنډيو له تخليق نه لاس نه دی نيولی، ما يې هم په ټولولو کې سستي او ناغېړي نه ده کړې، هرچېرې مې چې لنډۍ اورېدلې يا لوستلې دي، هغه مې له ځان سره خوندي کړې دي او په پرلپسې ډول يې تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم.

*****

په افغانستان کې د نوي سياسي نظامي بدلون په پايله کې چې کوم نوی نظام رامنځته شو، ورسره سم د جګړې ښامار يو څه غلی شو ډېر عذابول نه کوي، يوازې کله ـ کله ښوري او يو څه خلک تر ستوني تېروي؛ خو د جګړې د ښامار پر ځای نورې ستونزې خلک نه پرېږدي، يا لوږه ده، يو ساړه ورپسې راځي او که هېڅ نه وي کورنا وبا خو په هره کوڅه، کور او مالت کې د خلکو د عذاب له پاره حاضره ناسته ده.

سره له دې چې افغانانو په افغانستان کې د نورو ګڼو ستونزو په اړ و دوړ کې کورنا هېره کړې وه، خو د کورونا د نورو ښو ترځنګ د دې وبا نوې بڼې (اوميکرون) په نړيواله کچه لو ګډ کړی دی او د کورنا دا نوی بچی دومره روی او تند دی چې په لږ وخت او ګړندي ډول، ډېر ورانی کوي. خوار او بې امکاناتو هېوادونه خو پرېږده، چې پرمختللي او شتمن هېوادونه يې لا داسې په عذاب کړي دي چې لار ورنه ورکه ده.

داسې ویل کېږي چې د کوید نولس دوو وروستیو بڼو (اومېکرون او دیلتا) لاس سره یو کړی دی او په ګډه سره یې پر بشریت د ستونزو سخت توفان رامنځته کړی دی. د روغتیا نړیوال سازمان مشر وايي، د دواړو بڼو یو ځای کېدو له کبله د کورونا وېروس د توفان بڼه غوره کړې ده.

د کورونا د نورو بڼو تر ځنګ ښایي دا نوې بڼه (اومیکرون) هم افغانستان ته رسېدلې وي، خو څوک به پرې خبر نه وي؛ په عام ډول لکه تل چې څه پر خلکو او ټولنه راځي (ښه بد ـ منفي مثبت) هغه په لنډیو کې منعکسېږي او د لنډیو په هماغه واړه قالب کې په بېلابېلو بڼو انځورېږي. ما یې په دې وروستیو کې ګڼې بېلګې راټولې کړې دي

*****

په افغانستان کې د کورونا د زړو او نوې بڼې (اومیکرون) حالت سم معلوم نه دی، خو په اروپا کې اومیکرونه بڼه ښه په کش کې ده. پښتانه هرڅېرې چې دي، کوروناپي ستونزې د لنډۍ په لنډ قالب کې انځوروي او د میډیا له لارې یې تر نورو رسوي؛ زه هم په هرځای کې چې کورونیي لنډۍ ولولم یا یې واورم، سمدلاسه یې خوندي کوم او له تاسو درنو لوستونکو سره یې شریکوم.

*****

په نړۍ کې سیاسي، نظامي، اقتصادي، طبعي او نورو رنګارنګ بدلونونو، کورونا ناروغي له نړیوالو هېره کړې ده، نه یې څوک پر ستونزو غږېږي، نه یې د مړینو په شمیر او نه یې پر ورانونکو عواقبو باندې؛ حتی ډېر ځلې لیدل شوي دي چې د کورونا د تلفاتو د شمېرو په برخه کې هم ناسم رپوټونه وړاندې شوي دي.

په دې وروستيو کې د يادو ناسمو رپوټونو په برخه کې بي بي سي يو رپوټ خپور کړی دی، د ياد رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د روغتيا نړېوال سازمان وايي چې د کره شمېرو له مخې کوويډ وبا په غونډه نړۍ کې شاوخوا ۱۵ میلیون خلک وژلي دي. دا په تېرو دوو کلونو کې د منل شويو يا اعلان شويو شمېرو پرتله ۱۳ سلنه لوړ شمېر په ډاګه کوي.

د روغتيا نړېوال سازمان په باور ډېريو هېوادونو د کوويډ-۱۹ له کبله د مړو شويو شمېر کم، ياني يوازې ۵.۴ میلیون تنه ښودلی دی. دغه سازمان وايي چې دا شمېر تر دې ډېر لوړ دی.

په هند کې کورونا وبا ۴.۷ میلیون وګړي وژلي چې کچه يې د دغه هېواد تر رسمي اعلان شويو شمېرو لس برابره لوړه ده او دې ته په کتو هند په نړۍ کې درېيم هېواد دی چې د کوويډ له کبله ډېر خلک پکې مړه شوي دي.

خو د هند حکومت پر دغه اټکل شک څرګند کړی او ويلي يې دي، دوی د دغو شمېرو د راټولو پر ډول ډاډه نه دي. خو ځينو نورو ارزونو هم په هند کې د کورونا له کبله د وژل شويو د شمېر په اړه ورته پايله ترلاسه کړې ده.

د روغتيا نړېوال سازمان چې پر کوم معيار دغه شمېرې راټولې کړې دي، له حده د ډېرې مړينې په نوم يادېږي. مانا دا چې په يوه سيمه کې د کورونا وبا تر خپرېدو مخکې چې هلته د کوويډ له کبله د مړينې کومه کچه اټکل شوې وه، شمېر يې تر هغې د تمې خلاف لوړ وخېژي.

د شمېرو د راټولو په دغه ډول کې هغه مړيني هم ثبت او شمېرل کيږي چې په مستقيم ډول د کووېډ له کبله نه وي بلکې د همدې وبا لامله د رامنځ ته شوي حالت له وجې يو چا ژوند بايللی وي. لکه، ځيني خلک چې درملنې ته يې اړتيا لرله خو په وخت روغتون ته د تلو زمينه نه وه ورته برابره شوې او ساه يې ورکړې وه...»

زموږ په هېواد افغانستان کې د ارقامو وړاندې کول هم سم دي او ډېر ځلې د کورونا د وبا په اثر د مړو شو کسانو رپوټ څوک نه ثبتوي، دا چې څومره خلکو به د کورونا وبا د ناروغۍ په وجه خپل ژوند له لاسه ورکړی وي، کره معلومات هېڅ چا ته مالوم نه دی.

عام خلک لکه د نورو ټولنيزو ستونزو په څېر، کورونا هم په لنډيو کې يادوي، سر ورنه ټکوي او د څرنګوالي په باب يې د لنډيو په قالب کې د زړه حال ثبتوي،

*****

د کورونا له رامنځته کېدو نه تر اوسه پورې، دې وبا ډېر انسانان د ګور تيارو ته ولېږل، بشريت هم غلی نه شو او د دې وژونکې پېښې په مقابل کې يې هڅې پيل کړې، بنديزونه رامنځته شول، رنګارنګ واکسينونه جوړ شول، دا واکسينونه چا ولګول او چا يې مخالفت وکړ، چا ته ورسېدل او څوک ورنه محروم شول.

د کورونا وبا په مقابل د واکسينونو د جوړېدو او تطبيق څڅه دوه کلونه تېر شول او نړۍ د خلکو د پاملرنې برخې دا واکسينونه ولګول او دا لړلۍ اوس هم روانه ده، کورونا شته ده، خو د روغتيا نړيوال سازمان تراوسه پورې پر کورونا وبا باندې د بشريت د بشپړې بريا په باب څه نه دي ويلي، خو د رپوټونو په ترڅ کې يې دا ويلي دي چې واکسينونو دا څواک بشريت ته ورپه برخه کړې دی چې په

کورونا وبا باندې د اخته کېدو يو څه مخنيوی وکړي او د مړينو او تلفاتو شمېرې راټيټې کړې.



د کورونا وبا د تلفاتو په مقابل کې بشريت داسې تجربې تر لاسه کړې چې اوس يې د وقايي په بڼه کاروي او خلک کولای شي چې د هغو په عملي کولو سره ځانونه ترې وساتي، واکسينونو هم مرسته وکړه او د تلفاتو شمېر يې يو څه راټيټ کړ.

د کورونا وبا د نويو بڼو رامنځته کېدل او ورسره د نويو ستونزو زېږېدل او تلفات، بشريت اړ کړی دی چې نوې هڅې پيل کړی او د دې وبا د مخنيوي له پاره نوې لارې چارې وپلټي.

په دې ورستيو کې، په نړۍ کې داسې سياسي، اقتصادي، طبعي او... پېښې رامنځته شوې چې کورونا وبا يې له نړيولو څخه تر يوه بريده هېره کړې ده.

سره له دې چې کورونا وبا ستونزې په نړيواله کچه، په تېره افغانستان کې لکه د پخوا په څېر مطرح نه ده او خلک د نورو ستونزو د شتوالي

په مجه دومره پاملرنه نه ورته کوي، خو په پښتو لنډیو کې یې انعکاس او یادونه لا هماغسې مطرح ده او د لنډیو تخلیقونکي یې په بېلابېلو بڼو په هنري ډول یادوي، ستونزې او دردونه یې د لنډیو په لنډ قالب کې په هنرمندانه ډول انځوروي.

*****

د لنډیو راټولولو په کار کې، په تېره کورونا وبا پورې اړوند لنډیو په راټولولو کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوم. کله مې چې د نویو لنډیو د راټولو کار پیل کړ، په دې کار کې هیڅ چا ونه هڅولوم، تر یو څه منفي نظریاتو وروسته دا لومړی ځل دی چې په کورونا وبا پورې اړوند لنډیو د راټولولو او خپرولو په برخه کې د استاد سیستاني له خوا وهڅول شوم. استاد سیستاني د افغان جرمن د نظریاتو په کړکۍ کې د ۲۰۲۲ ام کال د می میاشتې په دېرشمه نېټه زما هڅې داسې ستایلي دي:

«اسم: سیستانی محل سکونت: سویدن تاریخ: 30.05.2022

تشکراز استاد بهاند بخاطرجمع آوری لندهای پشتودر بارۀ کرونا!
ترس ووحشت همراه باتلفاتی که از کرونا در دوسال پسین نصیب بشریت شده است،درتاریخ بی نظیراست.تلفات مجموعی جهان تا نیمه ماه می از مرزدوصد میلیون انسان عبورکرد. خیلی از انسانهای خوب وبدرد بخور براثر این ویروس کشنده جهانهای خوداز دست دادند. دراین جمله نویسنده جوان وپرکار افغان مصطفی عمرزی وداکتر نبی مصداق با چندین طبیب
شامل بودند.
تاثیراین وبا برجامعه فرهنگی پشتون کمتر از جوامع دیگرنبوده است. این تاثیر را میتوان در لندیها وترانه های فولکوریک جامعه پشتون دید واحساس کرد.

استاد آصف بهاند،بیش از هرکس دیگری از اهالی قلم به این موضوع توجه نموده ودربخش پناه و هفتم از سلسله مقالاتی که وقف جمع آوری لندیهای پشتو نموده اند، ده ها لندی زیبارا که بازتاب دهنده درد ورنج کرونا است ، جمع آوری نموده است. امروز فرصت دست داد تاسری به یکی از مقالات استاد بهانددر موردانعکاس کرونا در لندیهای پشتو بزنم، استاد بهاند باقلم روان وتصویرسازخود تعداد زیادی از لندیها را جمع آوری وبه خواننده گان خود پیشکش نموده است.من از خواندن این لندیها لذت بردم واینک دوسه نمونه از این لندیها:

تا خو په ما پورې خندلې
چې کورونا شوې اوس دې خبڑې فریادونه

که نړۍ تولهٔ کورونا شي
دیدن د یار مې چې عادت دی وربه شمه

چې نیمه شپه شي تبه سره شي
د کورونا په ناروغ نور راځي دردونه

برای استاد بهاند توفیق بیشتر در راهی که پیش رودارد ، آرزومیکنم.»

ببرته ما د مننې په دود داسې ورته ولیکل:

«اسم: آصف بهاند محل سکونت: ډنمارک تاریخ: 30.05.2022

له درانه استاد اکادمیسین کاندید اعظم سیستاني نه مننه چې زما یو له سترګو لویدلی، خو مهم فرهنګي فعالیت ته یې دانشمندانه پاملرنه کړې او په ښو یې یاد کړی دی.

د کورونا وبا له رامنځته کېدو سره سم، د لنډيو د تخليق په هميشه بهار بڼ کې، د دې وبا انځورول هم پيل شول. ما د نويو لنډيو د راټولولو لړۍ له څو کالونو پخوا پيل کړې ده او د لنډيو په باب د خپلو څېړنو او د نويو راټولو کړو لنډيو لومړۍ برخه مې د «لنډۍ او د ثبتولو ستونزه» تر سرليک لاندې په انلاين بڼه درنو لوستونکو ته وړاندې کړې او په دويمه برخه باندې يې کار روان دی، خو هغه لنډۍ چې د کورونا وبا او له دې وبا نه د رازېږېدلو ستونزو په باب ناخوالې بيانوي، له هماغه پيل نه ما راټولې کړې دي چې شمېر يې تر زرو (۱۰۰۰) لنډيو اوړي، ما کورونا وبا ته ځانګړې شوې لنډۍ په يوه جلا ټولګه کې خوندي کړې دي او ډېر ژر به يې په کتابي بڼه په انلاين ډول لوستونکو ته وړاندې کړم.
له استاد سيستاني نه بيا هم مننه!»

*****

# د کورونايي راټولو کړو لنډيو متن

دا هم د کورونايي لنډيو ټول هغه متن چې ما د کورونا وبا له را پيدا کېدو نه تر اوسه (۲۰۲۲/۰۶/۰۷) پورې راټولې کړې دي. که تر دې ورسته بيا ما ک,روناي‌ي لنډۍ راټولې کړې او شمېر يې ډېر شو، بيا به يې په يوه بله ټولګه کې وړاندې کوم:

کورونا ژوند دې درولی
ډېر زړونه مات شول، بيا بې څه رنګ رغوينه

زه کورونا کې درته راغلم
ته خيرخيريت کې زما نه کوې پوښتنه

نور مرضونه که وي خير دی
د کورونا راتګ لري ډېر خطرونه

کورونا شته زه درتلای نه شم
زما ياري پرېکړې مه شمېره مينه

د کلي لوی واړه راټول شول
د کورونا له لاسه خدای ته عرض کوينه

جانانه ستا په کورونا کې
بې تبې مراوي شول زما ټول اندامونه

له کورونا مرض نه سخت و
ظالمه ستا په خوله راکړي ځوابونه

په کورونا ويروس اخته سې
خيرنه زه دې تر مرګي راوستې يمه

په کرونا باندې اخته شې
پر ما دې راوستل د ټول جهان غمونه

کرونا وېروس دې در ميلمه شي
ما ته دې راوستل د ټول جهان رنځونه

له خونړي کابله راشه
ته دې ژوندۍ وې، زه به وچه ډوډۍ خورمه

ته به مې کله، کله ياد کړې
زه دې په زړه پورې ګنډلی ګرځومه

جانانه پام کوه را نشي!
پل معلوميږي دلته واوري شوی دينه

ښنګه نری خندا دې وکړه
ښنګه په ډک زړه مې ډېر وژړل مئينه

جانانه چېرته يې غږ وکړه
د دنياکی خلګ دې ورکو کې شمېرينه

غنی رهبر شو د زړه سر شو
په چا اختر شو په چا وشول فسادونه

مُلا پيسې مې بيرته راکړه
ستا په تعويز کې خو نور نه شته تاثيرونه

مرګۍ مې ښه دي چې مې بوځي
زه مې شيرين جانان په ژوند پښېمانه کړمه

راغلی مه وای انقلابه
کلی دې وران، زلمي دې ورک په وطنونه

د غريبۍ کچکوله مات شې
چې در په در دې ګرځوم تش دې راوړمه

خبرې لنډې، لنډې وايه
د جمعې ورځ ده مېلمانه راغلي دينه

کورونا غبرګ بچيان دې مړه شه
پر ما دې راوستل د هجر سېلاوونه

د کورونا قصه اورده شوه
شيرينه ياره چې بند نه کړې ديدنونه

کورونا ته شوې، خواره زه شوم
ليدای دې نه شم، بنديوان شوې په کورونه

کورونا! ته شې ځوانيمرګه
راغلی يار اوس راته غېږ نه راکوينه

کورونا! ته شې ځوانيمرګه
د تا له پاره اوس خولګۍ نه راکوينه

کورونا زړه راته چولی
کور کې بندي يم د يار نه شته احوالونه

د کورونا ظالم له لاسه
زړګی مې وچاوده، په خپل کور کې بندي يمه

د کورونا دې بچی ومري
لو يې ګډ کړی، ځوانان بند دي په کورونه

د کورونا دې بچی ومري
دا ډېرې ورځې له اشنا نه بېله يمه

جانانه راشه ديدن وکړه
کورونا راغله بيا به نه وي ديدنونه

که ديدن کړې، بيړه راوکړه
که قرنطين شوم بيا به نه وي ديدنونه

په کورونا دې خدای اخته کړي!
چې له هيواده سره څوک جفا کوينه

د کورونا ظلم له لاسه
خپل او خپلوان مې اوس تش لاس نه راکوينه

کورونا دومره ظلم وکړ
مينه شوه ختمه، څوک يو بل نه ښکلوينه

کورونا داسې چارې وکړې
د لاس مينځو درمل په جب کې ګرځومه

په داسې پېښو باندې سر شوم
چې ستړی مه شي په ځنګل باندې کومه

د کورونا وايرس له لاسه
خوارېږه اشنا راباندې بند کړل دېدنونه

راځه چې دواړه قرنطين شو
نه به رقيب وی نه د خلکو نظرونه

چې وعده وکړې خوله را نه کړې
قرنطين ښه يې چې زړګی مې صبر شينه

ورک کورونا شه ورک يې نوم شه
يار رانه سره غومبوري روغه جوړه ځينه

په کورونا مرض اخته شې
چي خوله او پوزه دې مدام ترلي وينه

کرونا په تلو را تلو زياتيږي
ګله جانانه مه راځه نه به درځمه

کورونا راغله لارې دوې شوې
د زړګي سره خپل غم کړه، خپل به کومه

په کرنتين کې مې زړه تنګ شو
لړ مسينجر ته شه چې زړه در وسپړمه!

په زړه مې يار وريږي خلکو
د کورونا په کور دې ګډ شي سيلابونه

د کورونا وایرس دې ورک شي
اوس به د زنې خال په ماسک کې پټومه

په کورونا وايروس اخته شې
په کرولا کې به پوښتني ته درځمه

په کرونا وايروس اخته شې
چې هندوستان کې دې ونشي علاجونه

کرونا په ټوکو ټوکو راغله
نه يې واکسين شته نه د سپينې خولې ماسکونه

په کورونا اخته جانانه
سلام له لرې رالېږه تازه به یمه

کورونا، کور کې کرنتين کړم
سپوږمۍ ته ګوره زه کړکۍ کې ناسته یمه

له کورنا نه ستړی مه شې
خولګۍ دې نيسه چې واکسين دراچومه

کورونايي حالت به تېر شي
زما به پاتې شي پر زړه باندې داغونه

اول مې هره ورځ ليدله
اوس نه راوزي کورونا بانه کوينه

کورونا ځان باندې اخته شي
چې درنه خلاص شي مينان او ټپي زړونه

کورونا وسوځې ایرې شي
ته يې بانه شوې، اوس په میاشتو نه راځینه

کورونا راغله خلک بېل شول
هر څوک پر خپلو لارو ځي ژړا موینه

کورونا غبرګ زامن دې ومره
چې نیمه خوا دې کړل پېشمېره ارمانونه

په کرنتین دې شي اور پورې
یار لونګین دی په فیسبوک دیدن کوونه

د کورونا ادی د مره شی
له مورن یی جوړ کور دننه آبشارونه

کورونا توره شې، مخ تورې
د تـــا لــه ډاره رانــه پاتـې دیدنونـه

کورونا څه او څه دې وکړل
داسې کاني خو څوک پر هیڅ چا نه کوینه

چې کرنتین شو یار په کور شو
ځیـنـې شـوده دي چـې دفـترې یـادویـنــه

چیرته مې شنو سیمو ته بوزئ
کـورونـا تـنـګ کـړمـه ژړا راتـه راځینه

کورونا څه چارې دې وکړې
جانــان خبـر راولیږه چـې نـه راځـیـنــه

کورونا يو خوا، ستونزې بل خوا
دومـړه درانـــه پـيـټـي به ښـنـګه چلومه

په کورونا کې ياري مه کړه
نـه بـه ورتـلای شي، نـه بـه وکـړې ديدنونه

کورونا راغله، لارې سل شوې
خلک حيـران دي چې پر کوم خوا ودانګينه

خدايه د څه چارې راوسوې
پر موږ خړ راغلل ډلې، ډلې وېروسونه

کورونا لوړه يو ځای راغلل
دوو دوښمنو ته حيران ودرېدمه

کورونا ومرې سره لمبه شې
پوره دې مه شه د وژلو ارمانونه

کورونا داسې کانې وکړې
ديدن دی پاتې اوس يې خيال کې يادومه

ما ته غوسه او تندي مه کړه
توند کورونا ته شه چې ببخ دي ړنګوينه

جانانه خدای دی دې راته ساته
د کورونا بلا دې وخوري خپل سرونه

کورونا اور واخلې لمبه شې
تا د خوارانو پر تن اور ولګونه

ځان دې په خپله کرنتين کړه
کورونا ګرځي په هر ځای ويشي مرګونه

له کـورونــا مې ګــيـــله نشي
د قــرنــطين لـه لاســـه دړې وړې يمه

جانان لامخکې فراري و
د کورونا په بانه ځان پناه کوينه

کورونا، لوږه دواړه راغلل
زه خو تش لاس يم، سترګې چا ته واړومه

صورت مې ټول له ډاره ډک دی
زه کورونا په خپل نامه ډار کړی يمه

کوروناييي ستايل کې ښکاره شوې
ما وي په وريځوکې سپوږمۍ سترګک وهينه

اې کـــورونــــا نـامـرده رنـځـه
رب دې ژر ورک کړه چې جانان مې وويــنـــمـه

خدايه دا څه چارې راوسوې
د کورونا بل يرغل راغی مړ به شمه

يوه خپه يې خلاصه نه وه
بلې خپې ته يې حيران ودريدمه

د تګ راتګ مـعـامله پـريـږده
لارو کوڅو کې کرونا پيرې کـويـنـه

د کورونا په غم کې نه یم
د قرنطين له لاسه دړې وړې يــمـه

کورونا ورکه شې تباه شې
چې يار راوزي او ارزان شي دیدنونه

د کــورونــا ظــلــم ته ګوره
د يار ديدن پسې به ړوند په سترګو شمه

کورونا ظلم خو دې وکړ
ژوند په ناکړې ګناه جيل کې تېرومه

کورونا لوړه دواړه راغلي
زما لاس تش دی سترګې چا ته واړومه

کورونا بس کړه ظلم مه کړه
ظالم مظلوم باندې دې راوستل جېلونه

جانانه کله خو راپیښ شه
د کورونا کرنتين ډېر ځېلی يمه

د کورونا له بلا خلاص شې
زه در تلی نشمه دعا درته کومه

له ډاره غږ کولی نه شم
کورونا خار کړې اوس به خوله را واچوينه

تر وني دنګ لالی دې مړ کړ
کورونا هر چېرې دې مړه شه ځراغونه

عالمه بيا کورونا راغله
نه مې پيسې شته، نه وړيا چېرې ماسکونه

ارمان به وکړې بيا به نه يم
کورونا راغله ما له ځانه سره وړينه

په کورونا باندې اخته شې
ما ته دې واچول سل ډوله مرضونه

چې نمبر دوه کورونا راغله
د خلکو چيغې تر اسمانه رسوينه

کورونا بېرته څله راغلې
زه يم بېوسه، نور هم ډېر دي مرضونه

کورونا بيا ښار کې خپره شوه
نه يې درمل شته، نه ځانګړي روغتونونه

ما درته نه وې ډارېدمه
کورونا وخته زه له حال ويستلی ومه

کورونا درد راته معلوم دی
د ټول بدن هر يو اندام چپه کوينه

کورنا بېل دې کړمه يار نه
ذرې، ذرې شوم اوس مې ايسته غورځوينه

کورونا درد دې راميلمه کړ
څومره بې ګالم را نه ورک دي طاقتونه

کورونا راغله کوربنه شوه
سهار ماښام یې دي د سر فرمایشونه

غم دې مرض د کرونا دی
چې هر وطن ته ترینه تښتم هلته وینه

کورنا بېرته په ښت راغله
ته مهربان شه یو ځل بیا راشه میینه

په کورونا باندې اخته شې
غماز رقیبه پوز ترېلي دې غواړمه

د کورونا څپه بیا راغله
غم دې کوه، زه به خپل ځان ساتم میینه

کورونا نوې شوه بیا راغله
د یار غم زوړ دی هره ورځ مې ژړوینه

کورونا ورکه شې تباه شې
موږ دې له ښکلیو محفلو ایستلي یونه

کورونا نه ورکېږي یاره
هوښیار هغه دی چې خپل ځان ورنه ساتینه

په کورونا باندې ځب، ځب شې
زه دې په تانده ځوانۍ دړې وړې کړمه

کورونا شته روغتون یې نه شته
غریب وطن دی په کې نه شته واکسینونه

له کورونا ډکې دي لارې
د باندې مه ځه چې ناروغ نه شې مينه

کورونا لره بره ګرځي
د باندې ونوزې له پښو دې غورځوينه

کورونا لر بر کې خوره ده
اشنا دې نه وهي په هر څه کې لاسونه

کورونا ډکی رانه جوړ کړ
ديدن دې وکړه نن به يم سبا به ځمه

کورونا زړه راکې چولی
راباندې پام کړه ياره نن سبا کې يمه

له کورونا نه به خلاص نه شې
کورونا باد دی ځان هر چېرې رسوينه

کورونا تول ارام دې ورک کړ
ارام دې ورک شه چې دې نښې ورکې شينه

يو کورونا بله يخني ده
جانان سړی راولېږه چې را دې شينه

تسلی مه راکوه ياره
کورونا راغله عالمونه غرقوينه

د کورونا په شانې ګرځي
غماز راخيستي دي تازه، تازه چمونه

د کورونا توان مې نه شته
تر ازادۍ نه ښه يم، ښه په زندانونه

زه لکه سيوري درسره يم
کورونا نه يمه خواري درپسې کومه

ما درته وې کابل ته مه ځه
کورونا ګرځي ستا به مات کړي اندامونه

کورونا راغله او ته لاړې
په دوه بلاوو کې به څنګه وي حالونه

له ديدن تېر يم ته رانشې
ډار راسره دی، کورونا دې تښتوينه

پام کوه ناز راباندې مه کړه
بد مې نصيب دی کورونا مې درنه وړينه

ته مې له حاله خبر نه يې
له کورونا سره خپـــړې لګومه

کورونا وسوځې ايرې شې
تا راته مات کړل د هډوکو ټول بندونه

زما د سختو ورځو ياره
کورونا راغله ورنه چېرې وتښتمه

که ځان په سل خونو کې پټ کړې
کورونا ګرځي کوراکور تا لټوينه

کورونا ژر دې خدای رخصت کړه
چې بيا کوشير شي تا بيل کړي تپې زړونه

کورونا شنډه شې بې زويه
د تا بچي له مورړ نه وړي زلمي سرونه

د «و» او «نه» ځواب دې وايه
کورونا ګرځي بيا به نه وي ديدنونه

جانانه پام دې وي خپل ځانته
د کورونا نوې خپې بيا راغلي دينه

زما د هرې سختۍ ياره
کورنا راغله ځان به چېرته پټومه

کورونا ډېر خلک چپه کړل
بخت چې نسکور شي باچاهان تکري خورينه

کورونا اور باندې تباه کړه
دلته يې مه پرېږده کنه رنده يې کړمه

لارو کوڅو ته به ونوزم
لاس کې څه نه شته کورونا يرغل کوينه

د والګي تبه ده اسانه
که پام ونه کړې کورونا درپسې راځينه

کورونا زړه دې خدای پولۍ کړه
ډېردې داغلي دي د ټولو خلکو زړونه

عالمه یو تر بل ځاریږي
سړنی کال د کورونا دی تېر به شینه

کورونا ورکه کړې ته خدایه
چې شالیلی په ماسک سرې شونډې پټوینه

د کورونا مریض دی ژاړم
که تور زیړی وای په خندا به ګرځېدمه

بدنه ځان ښه ورته ټینګ کړه
کورونا لویه بلا ځان حسابوینه

کورونا هسې شوه راوړاندې
مور تنظیمي ږیرو پخوا وژلي وونه

دزې کوې خبر هم نه یې
د کورونا دې تومانچې راوړې دینه

نور مرضونه کرار ناست دي
کورونا پټه، پټه هر لوري ته ځینه

که کورونا باندې اخته یې
ځان خدای ته سپاره، لږ هم وکړه احتیاطونه

دې کورونا سره به څه کړو
نه درملنه، نه یې شته دي واکسینونه

ناڅاپه بیا کورونا راغله
داسې ناڅاپه دې خدای بېرته ورکه کړینه

د کورونا جنګ سره مخ يم
ربه د مرستې مې نيولي دي لاسونه

پر تا او نوم دې خاورې واوړه
کورنا زړه دې راخوړلی مړه به شمه

د کورونا دې ستړه ووزي
څوک ترې خلاص نه دي نه په سمه نه په غرونه

د کورونا دې ستړه ووزي
نه موږه خلاص يو او نه لر و بر ملکونه

پر لارې تلای نه شم ډارېږم
د کورنا غږ مې هر پل کې ډاروينه

کورونا راغله د زړه سره
لارې رانيوه، راروان دي ويروسونه

پخوا جګړه او بېوسي وه
اوس کورونا شوه هر خوا دي وېروسونه

خدايه دغسې مې څواکمن کړې
چې کورونا او رقيب دواړه ځملومه

الله دې دا حوصله راکړي
چې کورونا رانه په خپله وتښتينه

پلار کورونا، پر بستر پروت دی
زوی يې واده محفل کې څښې اړوينه

ستاسو محفل کې کورونا وه
زه دې هم هلته ناپامۍ کې غوښتی ومه

په کورونا دې خدای اخته کړه
چې توپک ږیره درنه دواړه پاتې شینه

بیا به باور دربانډې نه کړم
زه دې محفل د کورونا ته غوښتی ومه

زما پر زړه دې تور داغ کېښود
کورونا زړه بانډې خدای کیږده داغونه

که په تاویز ځان ورنه ساتې
د کورونا له پاره نه شته تاویزونه

هر چېرې لاړم خوښي نه وه
کورنا ویر خو په هر لور منډې وهینه

د کورونا ظالم له لاسه
د ورځې دېرش ځلې لاسونه پرېمینځمه

د کورونا ظالم له لاسه
زه دروازې اوس په ځنګلو خلاصومه

د کورونا ظالم له لاسه
له کور وتی نه شم، په کور کې ایسار یمه

د کورونا ظالم له لاسه
خوله او پوزه مې په ماسک بانډې ترمه

د کورونا ظالم له لاسه
هره لمحه زه له اوبو نه ګوټ کومه

د کورونا ظالم له لاسه
اوبه د مالګې هره ورځ غرغړې کومه

د کورونا ظالم له لاسه
زه مې يارانو ته اوس لاس نه ورکومه

د کورونا ظالم له لاسه
مينه شوه خلاصه ځوک يو بل نه ښکلوينه

د کورونا ظالم له لاسه
د مکتبونو دروازې تړلې دينه

د کورونا ظالم له لاسه
پارکونه تش شول، بند يې کړل ټول هوټلونه

د کورونا ظالم له لاسه
زه اوس بازار ته له دستکشو سره ځمه

د کورونا ظالم له لاسه
زه سترې مه شي په ځنګل باندې کومه

د کورونا ظالم له لاسه
زه خپل الله ته شپه او ورځ زارۍ کومه

د کورونا ظالم له لاسه
د زړه له پاسه مې پولۍ ولاړې دينه

کرونا په تلو راتلو زياتيږي
شيرينه ياره مهر راځه نه به درځمه

د کورونا مرضه ورک شې
به ما دې بند کړه د سورکو شونډوسرونه

کورونا راغله لارې دوې شوې
جانانه خپل غم دې کوه خپل به کومه

په قرنطين کې دې خدای مل شه
که بهر لاړ شې کورونا دې قپوينه

پخوا به دم گړی سلام و
چې کورونا شوم رانه اړوي مخونه

کورونا ورکه کړې خاونده
لاره ده ورکه خلک غرق په تشويشونه

په کورونا دې تو لعنت شي
زما يې وران کړل د يارۍ سم جوړ کارونه

د کورونا لارې اوږدې شوې
اېښوداى نه شم پر دې لارو قدمونه

کورونا راغله هر څه مړاوي
زما د زړه گلان تشويش وهلي دينه

کورونا هره خوا خپره شوه
جانانه خپل غم دې کوه، خپل به کومه

له ما نه مه مرورېږه
کورونا شته ده، راپسې دي خطرونه

د بزرګۍ کیسې دې پرېږده
لار راته ښیه کورونا به ځنګه شینه

زه دې ښه وینم چې ولاړ یې
کورونا نښې درکې شته دي، نه درځمه

نن مې په ستوني کې درد راغی
یا کورونا یم، یا مې یار ښېرې کوینه

کورونا کال دې پوره نه دی
زما پر زړه باندې دې بار کړل ډېر غمونه

یا کورونا کې ډېر تاثیر دی
یا مې جانان رابانديې کوډې کړې دینه

چې کورونا نه وه باچا وم
په کورونا کې خو ملنګ د دوهۍ شومه

زما له غېږې دې جدا وي
خدای دې لالی له کورونا نه وساتینه

له ځان په تا ډېره دارېږم
کورونا ګرځي په ځان پام کوه میینه

په کورونا باندې اخته شې
چې د بل چا شوې دا ښېرې درته کومه

له کورونا نه خلاصی نه شته
هوښيار هغه چې ځان ښه لرې ترې ساتينه

په سفر تللی يار رانغی
يا کورونا ده يا به چا خپل کړی وينه

په چا چې تور د کورونا وي
زړه يې هم تور شي له هرڅه توبه کوينه

په کورونا کې مې يار بايلود
اوس به خود ډکې سترګې کښته پورته ځمه

خبر مې هيڅکله هم ناخلې
په کورونا يم اخته شوی مړ به شمه

ته کورونا ته ټوکې وايې
ما ته ولاړ دي هره لار کې ويروسونه

جانانه مه وزه له کوره
لارې کوڅې له کورونا نه ډکې دينه

د کرونا وايرس دې ورک شي
اوس به د زنې خال په ماسک کې پټومه

ځان په خبره باندې پوه کړئ
د کورونا له لاسه سر تندی وهمه

د کورونا په شانې پټ دی
څو چې پوهېږم ما به ډېرې ورې کينه

کورونا ډېر درنه ډارېږم
چې هر خوا درومم د تا ډار راسره وينه

کابل کې بل رنگ کورونا ده
ښه به پوهېږې، بيا هم منډې وروهينه

په قرنطين کې دې ځان ټينگ کړه
که بهر لاړ شې کورونا دې زوروينه

لکه شړشم درپسې زېړ شوم
ته راته وايي کورونا وهلی يمه

کورونا ډکی رانه جوړ که
کليوال وايي چې ما کړي دي کبرونه

کورونا زيړ لکه شړشم کړم
رقيبان وايي چې ښېرو وهلی يمه

خوړه لاليه هېر مې نه يې
اوس ناچاري ده کورونا ځپلی يمه

د کورونا ښپو کې گير يم
تول په رنو راته راگوري، ما ترې وړينه

ما درته وې هرچېرې مه ځه
د کورونا رنځ دې په پټه ختموينه

کورونا راغله زه يې وينم
ژوند رانه لاره بېلوي نور مې پرېږدينه

کورونا پرېږده راشه واوره
نصيب مې خوار شو له والګي نه ولوېدمه

د کورونا غږ دې چې وشو
د غم څپې مې پر سر ګډې ودې ځينه

په کورونا دې زه اخته کړم
ته اوس کوه په غځېدلو پښو خوبونه

ما درته وې نه دې منله
کورونا وژني له يو مخې عالمونه

د کورونا اورونه بل دي
خدايه د رحم دې راکوز کړه بارانونه

د کورونا اورونه بل دي
مورې ناتوان يو ربه وکړې کومکونه

کورونا څه به درته وايم
زما دې خاورې کړل د عمر ارمانونه

کورونا غبرګ بچي دې ومره
زما دې واخيستل ارام، ژوند او خوبونه

کورونا نه دې شم ليدلای
پر ناليدلي دوښمن څوک ګوزار کوينه

يوه دې بله وريسې ږې
د کورونا دې ځوانيمرګ شي اولادونه

د کوروونا له ډار سرسام شوم
داسې څه راغلل چې مې نه کول سوچونه

ولې به نه ژاړمه خلکه
کورونا راوستل د ټول عالم ويرونه

کوروونا هغه کاني وکړې
چې په عالم کې يې نور نه شته مثالونه

د کوروونا چورتونو زوړ کړم
راغلې نه وي سرې پښو نه غورځوينه

بېځايه مه ګرځه کوڅو کې
کورونا ګرځي بيا به خوله درواچوينه

د تا ديدن ته وم راغلی
په کورونا کې به سرسام چکر وهمه

کورونا راغله بېرته نه ځي
له دې بلا سره اوس ځان عادتومه

بيګا مې خوب کې وليدلې
ته کوروونا يې زه ژړا درته کومه

په کورونا باندې اخته شې
ماته دې ټول عمر دروغ ويلي دينه

په ما دې وي په تا دې نه وي
لوږه او تنده، کورنا او دا جنګونه

ستونزې انبار له هرې خوا شوې
يو غريبي بل کورونا ده مړ به شمه

په کورونا دې زه اخته شم
که ما وي کړي په يارۍ کې غفلتونه

تل يې له ډاره غلی ګرځم
د کورونا له لاسه ډېرې وړې يمه

په کورونا دې خدای اخته کړه
زه دې اخته کړم په سل رنګه مرضونه

خپله مې کړې ګيله نه شته
کورونا راغله رانه اخلي کساتونه

يو بېکاري بل کورونا ده
نور مې وس نه شته جا ته وکړم فريادونه

تر زهرو تريخ رابانديې لګي
کورونا نښې چې بدن کې ښکاره شينه

کورونا راغله حال خراب دی
د ناروغانو دې رب مل چې ښې وينه

د کورونا نوې خپې دي
لاليه پام کړه په هر لور دي ويروسونه

ډېر لرې تللي خلک راغلل
کورونا وړی لالی ښېرته نه راځينه

کوروونا هرچېرې بلا وي
خـو د انګلند کورنا سم وژل کوينه

د بزرګۍ کيسې دې پرېـږده
لاړ راته ښيه کوروونا نيولی يمه

اشنا په خدای باندې دې سپارم
پام کوروونا به په سنګر کې ناسته وينه

د کوروونا ښپو کې ورکه
زه درنه لاړم، بيا رالېـږه سلامونه

پر ما به هغه ورځ اختر وي
چې کوروونا مې له وجود نه کډه شينه

د کوروونا په لوی درياب کې
که احتياط نه وي، ډېر ځواکمن هم ډوبوينه

د رغېدو تمه يې لږ ده
د کوروونا توره ښپه ده وبه مرينه

پر خلکو نورې تکې لږ وې
چې کوروونا لښکرې هم ورته راځينه

مورې له جګړې نه ګيلمن وو
کوروونا راغله د هرچا لارې ښارينه

سر مې تر تولو زلمو هسک و
کوروونا راغله زوړند سر پر لارې ځمه

خوک مې د حال پوښتنه نه کړي
د کورونا بچيان لار څاري مړ به شمه

تن مې بېلتون پخوا ځپلی
اوس فريادي د کورونا له لاسه يمه

پخوا به ستا غم کې وم ياره
اوس مې ته هېر يې کورونا نيولې يمه

کورونا شته، خو نه يې وينې
خبر به نه يې عالمونه غرقوينه

کورونا خوږ بچې دې ومره
چې درنه خلاص شي تا ځپلي زلمي نجونه

کورونا ځان باندې اخته شې
چې درنه هېر شي تا نيولي عالمونه

کورونا وسوځې په اور کې
د ګل په شان لالي مې ګور ته رانه ځينه

کورونا ښه بده بلا ده
هوښياران هغه چې له بلا نه ځان ساتينه

له کورونا نه نه دارېږم
ډار مې له دې دی چې ديدن دې قضا شينه

خبرې تولې راته ساته
اوس لږ در تم شه، کورونا نيولی يمه

د کورونا خبر رانوړي
د زړه زخمونه مې تازه ګنډلی دینه

ډېره خواري راپسې مه کړه
زه کورنا یم درنه لرې ځان ساتمه

راباندې وخاندۍ عالمه
ما کورونا پورې خندل ویې نیومه

د کورونا وبا ښامار دی
له ښامار ځان ساته چې نه لري دمونه

ډاډه به په خپله زړه ته ورکړم
د کورنا له پاره نه شته علاجونه

ډېرې واخلئ ما پرې ولئ
خپله مې کړي کورونا ته خنډېدمه

ما وې چې ټوکې دي عالمه
کورونا راغله تر مېږې يې خواره کړمه

د ګناه پېټی مې پر سر دی
د کورونا ښېرې مې تا ته کړې دینه

د کورونا فکر کې نه وم
اوس مې ورپام شو عالمونه قتلوینه

نه ووړ نه زوړ ګوري جانانه
له کورونا نه ځان ساته خواره به شمه

ما مې خپل ځان په خدای سپارلی
کورونا شته ده زه به ځان ترې نه ساتمه

د کورونا عمر دې کم شي
جنګ کورونا دواړه يو ځای راغلي دينه

د راتګ سوچ له سر کړه لرې
ديدن نه کېږي، کورونا نيولی يمه

د کورونا ښېرې به نه کړم
ګوندې سرې شي بيا ونکړې نور ظلمونه

پر ما دې کړي، پر تا وشي
ښېرې درپسې دي، کورونا دې خملوينه

کورونا خلک لاندې کړي
پر ځان دې پام کړه چې دې بونزي مينه

په کورونا ته سردوچار شې
پر ما دې کړي دي بېشمېره ډېر ظلمونه

زما له پزې لوګي خېژي
د کورونا زور مې هډوکې خبروينه

د دنيا خلک ورته ګوري
کورونا لو کړل بې توپيره ډېر سرونه

خبرې پاتې شوې همدلته
کورونا راغله درته نه کړم اوازونه

خبر مې اخله بیا به نه یم
د کورونا زور مې بدن ازاروینه

پوز دې ښه پېچه بیا راوزه
چې کورونا دې رانه وانخلي میینه

په کورونا اخته ته وایه
دې خوا رانشي چې دا نور به ولړینه

چې منډيي کوڅې ته لاړ شي
بې کورونا چې ترې راځي نیکمرغه وینه

پر کورونا دې خاورې واوړي
لـړه دعـا راتـه کـوه نـاجـوړه یـمـه

ته به هغه وخت راخبرېږې
چې کورونا مې ټول بدن ځېلی وینه

کورونا مړ نه کړم محبوبې
د تا ترۍ پوز مې هر سات قتلوینه

په کورونا باندې ککړ یم
تا ته یې نه وایم پر زړه یې تیرومه

افسوس افسوس ارمان، ارمان دی
کورونا راغله ښوک مې نه کوي پوښتنه

اوازې ګډېوډې راغلې
د کورونا په تش نامه لیونی شومه

په کورونا باندې اخته شوم
خلاصی که نه وي د افسوس ژړا کومه

په کورونا زه تومتي شوم
ته دې ځان ساته، زما مه کوه فکرونه

ته دې هرکله خوشالي کړه
زه تېروم د کورونا سخت تکليفونه

ته مې پوښتنه شانتې نه کړې
د کورونا تست مې مثبت دی، مړ به شمه

تا خو هېر کړی يم جانانه
بدمرغي دا ده کورونا مې يادوينه

رقيب دې خاندې په ما پورې
باور مې شته له کورونا به خلاصه شمه

څوک مې له حاله خبر نه شول
دا دويم ځل دی کورونا مې څملوينه

څېرې ګرېوان مه ګرځه ياره
کورونا ورکه ده زه بېرته روغه يمه

خه شو که زه په ظاهر خاندم
د کورونا بلا مې ډېره زوروينه

زموږ د کور په خوا رانشې
لارې کوڅې له کورونا نه ډکې دينه

د کورونا علاج ستونزمن دی
په خوار وطن کې خو يې نه شته علاجونه

د کورونا بښېرې منمه
ديدن دې بند نه کړې چې مړ درپسې يمه

په کورونا راچپه نه شوم
ستا جدايي به مې اخر راڅملوينه

چې ته به روغ که به ناروغ يې
د کورونا اواز دې راغی مړ به شمه

لکه تورغر غم ته ولاړ وم
کورونا راغله شپېلوي مې اندامونه

ستا په يارۍ کې مست تازه وم
د کورونا شمال چې راغی مړاوې شومه

د کورونا نارې شوې ډېرې
خلک مجبور دي له ناچار چيغې وهينه

کورونا راغله خدای دې خير کړي
بده بلا ده ځان به دواړه ترې ساتونه

پر ما دې ولې وو خندلي
کورونا راغله خواږه خوند نه درکوينه

د کورونا ناروغان وايي
ډار خو يې پرېږده، درد غالب پر اندامونه

د کورونا دردونه راغلل
ملايان وايي درته ليکو تاويزونه

ما ته ښېرې د کورونا کړي
خپل ځانته وايي خدای مې لرې ترې ساتينه

څوک مې له حاله خبر نه شول
کورونا راکړل ښه بېشمېره ګوزارونه

د کورونا وير رادوځار شو
خدای به مې دې بلا نه کله خلاصوينه

کورونا راغله وير مې ډېر شو
خدای دې کړي ورکه چې بېغمه ځنې شونه

له کورونا نه د ځان ساته
که پرې اخته شوې ژوند به خوند نه درکوينه

چې ماسک دستکش ورسره نه ول
غيرِه ورنکړې کرونا ويروس لرينه

هلک په ښار کې کرونا شو
د کلي خلک ټول وبا نيولي دينه

زما اشنا ډير سر تمبه و
ويروس يې راوړ کلی کورتبې کوينه

زما د يار ټيسټ مثبت وخوت
کرونا نيولی، اکسيجن له کومه کړمه

د ځلمي دنګ قامت کړوپ شوی
کرونا ظالمې يې پلار مور وژلي دينه

خدايه کرونا نوره کړې ورکه
چې پرنجی راشي له کوټې منډې و همه

که کرونا کې غاړه درکړم
بې غوره ياره راته مړ نشې مينه

زما اشنا چې کرونا و
په قرنطين کې به ترې ليرې ګرځيدمه

ها پخوانی مينه د نشته
کرونا ويروس دې په زړه جوړ کړل تور داغونه

په ډيټول دواړه لاس سم مينځه
ته به ترې جوړ شې ما به تورې خاورې خورينه

زما د ښې ورځې لاليه
کورونا راغله اوس مې نه کړې ټپوسونه

اوس به ربښتيا ارمان پسې وکړو
په کورونا کې نه اتڼ شته نه ډولونه

تست مې مالوم شو کورونا يم
د زور هجران دی، نور به نه وي ديدنونه

دا کرنتين به هم خدای خلاص کړي
مدام به نه وي کورونا او بندبزونه

کورونا وچ لکه لرګی کړم
دا پاتې عمر په نغري کې تېرومه

ناز مې کاوه، ديدن مې نه کړ
کورونا راغله پښېمان يم په نازونه

کورونا داسې کړم سرسامه
اوس ليوني راځخه غواړي امانونه

کورونا اور راباندې بل کړ
زه د دوا او دوعا تمه درنه کړمه

کورونا خوار زما بدن کړ
اوس که ژړا وي که خندا ما درنه وړينه

جانانه ته به خبر نه يې
کورونا راغله په رېښتيا مې درنه وړينه

ژړا دې بنده کړه جانانه
کورونا نه يم چا دروغ ويلي دينه

د کورونا ظلم ته ګوره
يو رانه يوسي، زر پرې نور تېپي کوينه

کورونا کله به ختمېږي
که ورکه نه شې، جانان ما ته نه راځينه

کورونا کله به شي ورکه
زه به ځو کاله انتظار ورته کومه

ما د راتلو لارې څارلې
د کورونا خبر دې راغی ولوېدمه

له کورونا نه تېښته نه شته
که احتیاط وشي، نور به نه کړې تشویشونه

زما دوعا به درسره وي
کورونا راغله تا به خدا ی راته ساتینه

په تاویزو باندې څه نه شي
کورونا شته ده راپیدا کړه واکسینونه

په دوایي مې چاره نه شي
زه کورونا یم ما ته وکړه تاویزونه

چې کورونا شوم بیا رانغلې
په کار مې نه دي اوس ستا هره ورځ لیکونه

څوک چې یاري کړي، نه ډارېږي
کورونا راغله، تا هم بند کړل دیدنونه

په کورونا مین اړ نه وي
چې بې دیدنه ترې راځي، خو مړ دې شینه

له کورونا نه په امان شې
بله چاره نه شته زارۍ دعا کومه

که کورونا نه امن غواړې
زموږ مالت ته دې یار کله نه راځینه

يو درد مې نه دی چې ژر روغ شي
کورونا راوستل بېشمېره نورو دردونه

څه کورونا بدله شوې
څه ستا چلونه چې ځان هر سات بدلوينه

پخوا غماز اوس کورونا ده
اميد مې شته چې بيا به وشي ديدنونه

له کورونا نه دې خدای روغ کړه
زه بې ديدنه ستا په نوم ژوند تېرومه

شکر چې ته کورونا نه يې
له خپله ځانه ډېر په تا زه ډارېدمه

دا نور غمونه لږ وو دلته
چې کورونا هم خدای پر موږ نازلوينه

د خمارو سترګو مېـرمنې
زه کورونا يم، غم مې خوره چې مړ به شمه

څوک چې په خپله کورونا وي
د بل چا مرسته به بيا څرنګه کوينه

کورونا زور راته مالوم دی
پر چا چې راغله ځان دې مړ حسابوينه

نور دې هر څه پر ځان منمه
د کورونا درد به دې ښنګه لرې کړمه

چې خدای کوي، هغه به وشي
کورونا راغله زه يې څه پروا لرمه

ځان نه ساتې، ارمان به وکړې
لويه بلا ده کورونا مړ به دې کړينه

د زمانې اتل هغه دی
چې کورونا سره خپړې لګوينه

چې کورونا دې کړي رالاندې
په بله نه شې، خدای ته سپارو خپل ځانونه

جانانه ته يې ناخبره
کورونا راغله په پلمه مې درنه وړينه

ته بېوفا، خبر مې ناخلې
کورونا راغله په دردو مې زوروينه

ځان دې خبر کړه زما له حاله
کورونا راغله په خندا مې درنه وړينه

تمامه شپه مې جګ زګېروي وي
د کورونا وبا مې ډېره زوروينه

تمام عالم په وير اخته دی
چې کورونا وي خود به ډېر کړي دا ويرونه

ځان درد مې وايي کورونا يم
ته يې په ټوکو تېروه، زه درنه ځمه

تن مې له درد سره ځبب ـ ځبب دی
د کــورونا ښېــرې دې کړي، مــړ به شمه

زه پر هرڅه باندې لاسبر وم
نصيب مې خوار شو کرونا مې غورځوينه

تودې، تودې اوښکې درومي
د کورونا مرض مې وړي، تا زوروينه

په کورونا مې زړګی شين شو
نه ده راغلې ما يې خيال هم زوروينه

په کورونا مې تن ظهير شو
چاره يې نه شته، خدايه ته وکړې خيرونه

په کورونا پسې ويل کم کړئ
دومره به نه وي، خلک يې خپله ډېروينه

له کورونا نه دې ځان ساته
بده بلا ده عالمونه قتلوينه

په کورونا باندې اخته شې
چې درمالوم شي د غمجنو احوالونه

په کورونا باندې اخته شې
چې روغ صورت پسې څو ځل وکړې ارمانونه

زه خو يې وينم قيامت شو
چې کورونا باندې راډک شول ډېر قبرونه

دا زه چې زېړ زبېښلی ګرځم
د کورنا له لاس پر زړه لرم داغونه

دا چې چورتونه رادوخار دي
کورونا ورو مې شپېلوي ټول اندامونه

کورونا څه بده بلا ده
که ځان په سلو سوړو پټ کړې دا راځینه

زما زړګی به هلته خوښ شي
چې کورونا له ملکه کډه باروینه

ته کورونا شوې زه دې مړ کړم
خدای دې راروغ کړه چې لږ سا واخلم میینه

چې کورونا شوم هرڅه بد شول
بیا رانه پوښتې چې زه ولې ژېـړه شومه

اوس به کوم لوړ غره ته ورخېـژم
چې کورونا راپسې پل ونباسینه

حاجت به نه وي د ویلو
زه کورونا یم، دې خوا مه ږده قدمونه

په کورونا دې ځان اخته کړ
خواره دې زه کړم چې احتیاجه شوم میینه

له تش نامه یې هم ډارېـږم
د کــورونــا وبا تـــول خلک ډارویـنـه

له رقيب ځان خلاصون اسان دی
له کورونا نه خلاصی نه شته مړ به شمه

يو کورونا بل دا جګړې دي
په ښېرو نه شي، ځان به څنګه خلاصومه

چې کورونا شم بېله اوسم
بېله به خورم، بېله به سوچ درپسې کومه

کورونا ژر راپسې راغله
دوعا کوه چې ژر ـ ژر کډه باروينه

چې کورونا راسره مل شوه
هر څوک بېزاره، رانه تښتي بنه وختونه

له کورونا که شومه جوړه
نور مې قسم دی په هر پل به ځان ساتمه

چې کورونا شوې ټول به تښتي
څوک ځان په زوره د مرګ خولې ته ورکوينه

زه کورونا يم درنه ځمه
تر څو چې يمه زړه مې بنه ساته مينه

که کورونا نه، نه خلاصېږم
ته دې خوښ اوسې، راپسې مه کړه ارمانونه

زه کورنا شوم ته رانغلې
که درنه مړه شوم چې ونکړې ارمانونه

له ما جګړو کې لاره ورکه
کورونا راغله نور يې هم سرسامه کړمه

په تعويزو لکه چې نه شي
د کورونا له پاره راوړه واکسينونه

کورونا تول بدن نيولی
زړه ترې ساتم چې په کې ستا مينه لرمه

په کورونا چور ليونی شوم
که ورنه خلاص شوم، بيا به وکړو ديدنونه

د کورونا ښېرې به نه کړې
نور چې ته هر شرط راته ږدې، زه يې منمه

په کورونا خو اخته نه يې
تشې پلمې کړې چې ديدن ته نه درځمه

کورونا سپينه ده که توره
له ليدو پرته يې زه ښه ډار کړی يمه

په تور لحد کې نارې نه شي
د کورونا له لاسه چا ته وژاړمه

له کورونا نه ته ځان ساته
زه بې ديدنه تورې شپې سبا کومه

کورونا داسې بندي کړی
نه يې ديدن شته، نه يې تش سلام راځينه

ما ته له لرې سلام وايه
زه کورونا يم وړاندې مه راځه میینه

په کورونا مې مه شرمېږه
داسې وبا ده چې په ټولو پسې راځينه

د کورونا بانه خو مه کړه
په نره وايه چې مې ناخلې احوالونه

ډېره موده دې درک نه شته
کورونا نه یم راشه وکړه دیدنونه

جانانه رب د پاره راشه
زه کرونا یمه وروستی دیدن کومه

خدای دې په خپله رحم وکړي
کورونا راغله ما له ځانه سره وړینه

جانانه يو ځلې خو راشه
زه کورونا يم، په ما مه کوه ظلمونه

ترليونو نه هم بدتر شوم
کورونا وير دپاسه ويد دی، مړ به شمه

اوس د خالو فکر کې نه یم
د کورونا سودا مې خپله غرقوينه

د کورونا په تبه مړ شې
چې جنازې ته دې يو تن هم نه درځينه

له کورونا نه دې خدای روغ که
کورونا ته يې، زېړه زه درسره شومه

په کورونا باندې پېښ نه شې
که پر اخته شوې بيا به ټول بېزاره وينه

ته کورونا وې، ودې نه وې
زه دې اخته کړم اوس بنېرا درته کومه

کورونا ته يې خواره زه يم
خدای دې راروغ کړه چې پېغور نه خلاصه شمه

په کورونا لړلی جوړ شو
د چا د ژبې په ناسور به څنګه شينه

د شکايت څوک نه لرمه
د کورنا ډک زړه به چا ته تشومه

ما ورته وې، نه يئ منله
کورونا راغله اوس ژړا ورنه کوينه

چې کورونا شوې راته راغلې
چېرې وې هلته چې کول مې ارمانونه

خلکو د مرګ يمه لايقه
چې کورونا ومه، په غېږ ولې ورتلمه

د کورونا بنامار راغلی
زه يې له ډاره همدا اوس رنځوره يمه

د کورونا ښامار چيچلی
پر ټول وجود يې تبه راغله مړ به شينه

يار کورونا کې ځان لاهو کړ
د کلي نجونې پورې خاندې مړ به شينه

زما يې تش ديدن يادېږي
په کورونا نه دی اخته باني کوينه

کورونا ژر راځي، په ځنډ ځي
که پام ونه شي، عالمونه غرقوينه

حاجت د حال ويلو نه دی
پر ټول بدن دې کورونا لوبې کوينه

لالی زما دې روغ رمټ وي
له کورونا نه ځان ساتي خوشاله يمه

حال مې له مخ نه در مالوم کړه
کورونا راغله ځکه زېړ زبېښلی يمه

کورونا اور نه هم بدتره
خوار ورته ناست وي، همدا اور يې سوځوينه

چې دا خو ورځې مالوم نه شوې
زه اوس شکي يم، کورنا به يې مبينه

په کورونا لړليه ياره
ما ته رانشې چې طاقت يې نه لرمه

ما درته وې چې ځان دې ساته
تا نه منله، کورونا دې زوروينه

جانانه داسې وخت به راشي
چې کورونا نه وي بېغمه به درځمه

جانانه راشه که مې ګورې
کورونا لاړه اوس تازه ولاړه يمه

جانانه رحم پرما وکړه
يو دې بېلتون، بل کورونا مې زوروينه

خدای دې راښه له کورونا کړه
يو به راښه شې، بل به نه وي پېغورونه

له کورونا رغېدن شته دی
چې ښه راجوړ شوې، بيا به ورکړم خيراتونه

په کورونا دې زه غلط کړم
نامردې ولې په ميدان دې پرېښودمه

په ولوراه پسې ورکه ياره
زه کورنا يم ښايي نه وي ديدنونه

د کورونا نښې درکې دي
شرينه ياره مه راځه، نه به درځمه

باور په چا ونه کړې ياره
کورونا نه يم چا دروغ ويلي دينه

له دې نه ښه ژوندون به نه وي
نه کورونا شته، نه مې يار څوک لمسوينه

ته وايې غم مه کوه ياره
د کورونا سودا مې خوب ته نه پرېږدينه

د تا په فکر کې ويده شم
د کورونا ډار مې له خوبه پاڅوينه

ټغر به ټول د ژوندانه شي
له کورونا نه به برباد شي وطنونه

په کورونا لړلی راشې
چې دې له ما سره مات کړي دې لوزونه

ټګي دې وکړه، ټګه ياره
کورونا نه وې زما دې صبر پر خدای وينه

جانانه راشه که مې ګورې
زه کورنا يم ښايي نه وي ديدنونه

کورونا يار رانه جلا کړ
بې له ديدنه به يې څه کړم سلامونه

ته به مې هلته ارمان وکړې
چې کورنا شم، نور به نه وي ديدنونه

ميينان هله سره ژاړي
چې کورونا شي، نيمه خوا شي ارمانونه

کورونا ته شوې خواره زه شوم
راپسې نښتي دي بېشمېره پېغورونه

تېوخی ونکړې ګرانه چوپ شه
خلک به وايي کورونا دی نه راځینه

کورونا غم راسره نه شته
زه خو واکسین شوم چې جانان به خنګه وینه

که پام ونکړو ګرانه یاره
کورونا راغله ما و تا جلا کوینه

د تا دیدن ته درنغلم
زه په ځنځیر د کورونا تړلی ومه

تېګي دې وکړه ګرانه یاره
زه کورونا یم یو ځل نه کوې پوښتنه

جانانه دومره تشویش مه کړه
له کورونا وبا نه ژر ځان خلاصومه

کورونا زه یم لاندې کړی
تبه د تا ده زه هم دې ته حیران یمه

جانانه ته خو بېغوري کړې
په کورونا لړلی یار به خنګه شینه

جانانه ژر وهه مزلونه
د کورونا ناروغ خو ژر له منځه ځینه

په کورونا رانه جلا شوې
نامرده مرگ ته دې یوازې پرېښودمه

اموخته باز وې رانه لاړې
لاس پښې تړلی کورونا یم نه درځمه

کورونا ښه یم لاندې کړی
بل څه نه غواړم راته پورته کړئ لاسونه

امسا په لاس مخې ته راغی
د کورونا وبا نیولی مړ به شینه

الله تعالی رحمان رحیم دی
په کورونا لړلی یار به مې روغ شینه

افسوس به وکړې، بیا به نه یم
د کورونا باد چې چلېږي مړ به شمه

په کورونا لړلی راشې
چې له روغبړ څخه دې تښتي عالمونه

د کورونا ویر راسره وي
چې په مخ راشي هغه هم کډه کوینه

د ورکېدو غړونه کېږي
کورونا راغله زه به خدای ته ځان سپارمه

د ورځې خلکو نه ډارېږم
د کورونا ویـر مې بیا خوب ته نه پرېږدینه

له کورونا نه ځرنګ خلاص شم
لکه سرسام د خلاصون لارې لټومه

د کورونا په وخت کې راغلم
رسک مې منلی جانان مخ نه راکوينه

د کورونا ناروغان ډېر دي
ځر به له کوم يوه نه ځان زه خلاصومه

کورونا راغله ژوندون تريخ شو
يار مې ډارېږي اوس يې بند کړل ديدنونه

يار مې له ډاره سږ رانغی
د کورنا دور چې تېر شو رابشينه

رښا د مخ دې راښکاره کړه
کورونا نه شته چا دروغ ويلي دينه

په کورونا يم ستې شوی
جانان دې نه راځي، خپل ځان دې وساتينه

د تا هجران يم رنځور کړی
کورونا نه يم چا دروغ ويلي دينه

رنځور اشنا ته مې خوله ورکړه
که کورونا وي، حال خراب شو څه به کړمه

د تا بېلتون ته تېنګ ولاړ وم
کورونا راغله د دې زور به څوک لرينه

روغ به له روغو سره ناست وي
د کورونا ناروغ خو بېل له خلکو وینه

زما پر زړه یې داغ راجوړ کړ
یو کورونا ده، بل یې نه شته احوالونه

کورونا ومرې څه دې وکړل
که درنه خلاص شوم بیا به ورکړم خیراتونه

د تا له لاسه لیونۍ شوم
ته لیونۍ شې کورونا، زه دې خوار کړمه

په تعویزونو څه ونشول
د کورونا له پاره راوړئ واکسینونه

پر جهان ډېر غمونه شته دي
د کورونا غم زورور دی مړ به شمه

د خوشالۍ خبر دا وي
چې کورونا په ټول جهان کې محوه شینه

له کار له زیاره یې کړم پاتې
د کورونا ډار چې لري، داسې به وینه

په کورونا لړلیه یاره
درتلی خو نه شم اوس دوعا درته کومه

په تش دیدن دې خوشالېږم
اوس کورنا ده له دیده هم تېره یمه

کورونا هر څه ګډوډ کړل
اوس ښه او بد ټول لړل شوي په غمونه

ما ته دې نوی وير راپېښ کړ
کورنا مره شي چې بېغم شي عالمونه

ربباره يار ته سلام وايه
واکسين چې وشو، بيا به وکړو ديدنونه

وبا خو ټول عالم جايبند کړ
که کورونا وي، نور به نه وي ديدنونه

که کورونا ته په لاس ورشي
خلاصون به نه وي، بيا به وکړې ارمانونه

تن مې قوي کورونا خوار کړ
د خوار پوښتنه به اوس کله څوک کوينه

د کورونا خبر يی راغی
کورونا سين دی اوس به دواړه غرقوينه

ډېرو حملو نه به راجوړ شې
د کورونا حملې دې ګور ته رسوينه

پر لارې ځم پوره ډاربېږم
ډېره ويرېږم کورونا راپسې راځينه

د ساده لويه ننبه دا ده
له کورونا نه ځان په تېښته خلاصوينه

د خدای په لوی کرم به کېږي
کورونا راغله عالمونه غرقوینه

په جوړېدو دې راجوړېږم
کورونا ته یې خواره زه ګرځم میینه

کورونا تش نوم لیونی کړم
او که ریښتیا شي پر سر خاورې بادومه

هسې په خیال کې هم تاثیر کړي
د کورونا نوم زیـــږوي ډېـــر هیبتونه

کورونا راغله ته یې یوړې
نور څه خو نه شم، تش دوعا درته کومه

کورونا شرم نه مرض دی
اوس چې راغلې ځان به لرې ترې ساتونه

جانانه راشه خبر واخله
زه کورونا یم، مخکې ډېر دي خطرونه

جانانه راشه کورونا یم
که شي غالبه بیا به نه وي دیدنونه

د باندې مه ځه زه ډارېږم
کورونا ډېر لري خطر او هیبتونه

کور کې به ځان بیا کرنتین کړو
کورونا هــر پــل غوړولي دي جالونه

په زړه او حال دې خبردار یم
ته کورونا يې ما ته نه وايې حالونه

زه که حال ووایم یا پټ کړم
تږخی مې وايي کورونا یمه میینه

کورونا ټول جهان نیولی
ښه خو به دا وي چې پیدا کړو واکسینونه

کېدا شي مرګ راپسې راشي
د کورونا تست مې مثبت دی وبمرمه

ستونی مې تریخ، تبه مې ډېره
د کورونا نښې لرمه مړ به شمه

خلک دې وايي کورونا یم
کورونا نه یم چا دروغ ویلي دینه

بېشک چې خدای رحیم رحمان دی
چې رحم وکړي کورونا هم ورکوینه

اندیښنې مه کوه جانانه
د کورونا شمال راغلی بېرته ځینه

په اندېښنو خو نه رغېږي
د کورونا واکسین کوه چې ورکه شینه

په اندېښنو خو نه رغیږي
کورونا کور کې تېروه چې ورکه شینه

په کورونا ککړه ياره
چاره چې نه وي بس دوعا درته کومه

پر لاره تلم چې کورونا شوم
اوس رانه پاتې شول د مينې ټول کارونه

د ژوندون خوند يې رانه واخيست
د کورونا له لاسه ډېر دي بنديزونه

کورونا رنګ د ژوند پيکه کړ
هره ورځ وايي چې لږ نور وکړه صبرونه

اوس کورونا ده ورتلای نه شم
خدای مهربان دی ژر به ورک شي بنديزونه

هره شيبه په چکر مه ځه
کورونا ګرځي، مخامخ حملې کوينه

ته دې خپل غم کوه جانانه
له کورونا سره خپږې لګومه

که کورونا دې رانه يوسي
د نه شتون داغ به دې په زړه کې ګرځومه

ما کورونا نه ده راوړې
چې برګې ـ برګې راته ګورې مړ دې کړمه

زما ډالۍ هم په کار نه ده
کورونا مه راوړه دغه به ډالۍ وينه

له بڼ مجبوراً درنه لاړم
د کورونا ډار سره دی ووتمه

نوره کراره کراري ده
د یار غمونو کورونا کړم مړ به شمه

پخوانی خوند په باد کې نه شته
چې کورونا ورسره نه وي خوند کوینه

کورونا ډېر خلک تباه کړل
بل څه کړای نه شمه ښېرا ورته کومه

په سفر مه ځه کورونا ده
چې خلک ډېر وي، هلته مه ږده قدمونه

لیک دې لوستی نه شم جانانه
د کورونا ډآر مې نړلي دي لاسونه

کورونا نه شته ډار يې شته دی
خوشي فکرونه يې هم هډ راسوځوینه

بې کورونا، کورونا شوی
ډار وریپسې دی نور يې نشته طاقتونه

ارمان به وکړې ګوره مه ځه
چېرته چې ډېر خلک راځي، کورونا وینه

په کورونا اعتبار نه شته
ځوک يې په سترګو نه ویني، دا به راځینه

د خلکو منځ ته به بیا نه ځم
د کورونا ځپې له خلکو سره وینه

د کورونا نوم چې وانخلې
دا خو لا پرېږده، له نامه یې ډارېدمه

له کورونا نه به ځان ساتم
که مې د تېرې دورې درد په یاد کې وینه

کورونا ټوکې نه دي یاره
ته نه پوهېږې، په هوا درته راځینه

چې کورونا وي سپرلی نه شته
نه چېرې تلای شې نه د یار وي دیدنونه

بې کورونا پسرلی خوند کړي
چې کورونا وي څه سپرلی، څه خزانونه

په کورونا باندې اخته شې
چې ته بدې کړې او زه ښه درسره کړمه

ښه ده چې رانغلې جانانه
میلمه راغلی، کورونا ټوخې کوینه

له هرڅه، هرڅه نه ځان ساتم
د کورونا له لاسه نه وروړم لاسونه

د کورونا زړه دې سوری شي
چې د هرچا، هرڅه بنیاد کې سوځوینه

چې کورونا وي، نو ترې تښته
دی پوه شه کار يې، ستا جلا دي خپل کارونه

رنگ به مې ولې نه زېړېږي
د کورونا احوال يې راغی مړ به شينه

افسوس پر خپله وفا راغله
کورونا راغله ځوک مې نه کوي پوښتنه

څوک وايي شته، څوک وايي نه شته
کورونا شته او عالمونه قتلوينه

تا چې کوټه کې توخې وکړ
غمازان وايي کورونا به وي مينه

کورونا هره خوا خپره وه
ما خطرونه قبلول، تا ته راتلمه

ته د مچکې شوق ونکړې
د کورونا استازي پټ په سنگرونه

ټوکې يې مه گڼه جانانه
زه کورونا يم، غم مې خوره چې وبه مرمه

د کورونا خبر يې راغی
پر ما ماتم ده اوس به څه کېږي عالمه

په کورونا دې خدای اخته کړي
چې له هېواده سره څوک جفا کوينه

دوې بلا غبرګې دي راغلې
يو کورونا بل يې ده لوږه مړ به شمه

چې کورونا طالب يو ځای شي
خلک تباه کړي، در په در کړي عالمونه

تر کورونا بده طالبه
خدای دې تباه کړه تا جوړ کړي قيامتونه

تر کورونا طالب بدتر دی
کورونا ورو او طالب ژر وژل کوينه

امبار غمونه مې درلودل
د کورونا بار سرباری دی مړ به شمه

د رغېدو هيله مې شته ده
د کورونا له رنځ چې جوړ شوم دربه شمه

د رغېدو هيله لرمه
د کرونا درد مې چې ورک شو بيا درځمه

هيلمن يم نا هيلی نه يم
که الله وکړي کورونا نه به جوړ شمه

د کورونا انديښني راغلې
اوس لمر خاته او لمر لويده نه پيژنمه

کورونا وسوم غم لوګی کړم
ناامید نه يم، هيله شته چې روغ به شمه

اندېښني مه کوه جانانه
له کورونا چې ښنګه خلاص شوم دربه شمه

په پخوانو دردو برلاس وم
د کورونا دردونه ملا راخموینه

ما پخواني دردونه هېر کړل
د کورونا درد مې هډوکي سوزوینه

ښنګه چې ستا د دیدن ورځ شوه
د کورونا قاصدان راغلل بند یې کړمه

زه درتلی نه شمه جانانه
د کورونا دردو مې پښې تړلې دینه

ما کورونا ستنوی نه شي
زه به درځم که ښوک مې دار ته خېژوینه

کورونا درد ډېر زورور دی
که درته راغی سم دم ملا درماتوینه

دا چې درتلای نه شم جانانه
دکورونا سپاهیان لارې بندوینه

دباندې نه ځمه جانانه
لارې کوڅې له کورونا نه ډکې دینه

د کورونا اور بیا تیز شوی
که ځان ترې ساتو نو به کور کې پاتې شونه

کورونا سره اور نه تېره ده
تر څو چې پوه شې د زړه غوښې پخوینه

کورونا اور د دوزخ اور دی
چا ته ناری کړم، ټول اندام مې سوزوینه

دا نور اورونه ورته هېڅ دي
د کورنا په اور ستي شوم مړ به شمه

یمه لویدلی حال مې واخله
د کورونا په رنځ اخته شوم مړ به شمه

نه يې اواز شته، نې لیدای شې
د کورونا بلا له هر لوري راځینه

تش نوم يې شته، لیدای يې نه شم
له کورونا سره مې کار شو وبه مرمه

په تیمبوزکه يې خوله بنده
له کورونا نه ځان په دې ډول ساتینه

نه به خولگۍ نه به دیدن وي
کورونا شته چې لگېدلي بندیزونه

د خولگۍ څکه به ونکړې
د کورونا له پاره بند دي سوغاتونه

جانانه پام کوه رانشې
د کورنا سپاهیان بنکته پورته ځینه

د کورونا دریاب کې ګډ یم
خدای خو دې ما له غرقېدو نه وژغورینه

رنګ خو مې ژیړ اوښمې روانې
چاره مې څه ده کورونا نیولی یمه

د کورونا چورتو خراب کړم
نه مې ده تبه نه راغلي دې دردونه

کورونا نوم داسې سرسام کړم
اوس په هر چا د کورونا ګمان کومه

خدای مې دې دې وارته راجوړ کړي
نور به تول عمر کورونا نه ځان ساتونه

که احتیاط نکړې، لړل کېږې
کورونا دام ده هره خوا دي خطرونه

ما کورونا دروغ ګڼله
اوس پکې ډوب یم د روغتیا کوم سوالونه

اول دروغ راته ښکاره شوه
خو کورونا لویه بلا ده خلک خورینه

ما یې راتګ ټوکې ګڼلې
د کورونا استازي راغلل وینیومه

کورونا ما را غوښتي نه ده
چې ته مې بولې ملامت په کتابونه

که مې جانان دا ځلې راغی
د کورونا له ډاره پرته به ورځمه

لرګي د اور په زور سوزېـږي
زما هډوکي کورونا را سوځوينه

له مخه ښې پرته چې لاړم
زه کورونا وم، ما سره وو ستا فکرونه

اوس په بادونو باور نه شته
په کې خپـرېږي کورونا او ويروسونه

ډېره چورتي يم کورونا ته
د مسافر اشنا مې نه شته واکسينونه

د باندې تګ مناسب نه دی
کورونا ګرځي، يرغل کاندي ويروسونه

له کورونا نه که خدای خلاص کړم
بيا مې توبه ده احتياطونه به کومه

ټوله نړۍ کې دا يو غم دی
د کورونا له پاره ټول تشويش کوينه

تر کورونا طالب بدتر دی
کورونا ورو او طالب ژر وژل کوينه

بيا به د ښار په لوري نه ځم
خلک پکې ډېر دي، کورونا ژر لېږدوينه

هره خوا هرچېرې به نه ځې
کورونا شته ده، په هر لور دي خطرونه

د کورونا اورونه بل دي
خلک يې وسول په هر لور دي فريادونه

يو خوا نيستي بل کورونا ده
خواره خواري ده واويلا نارې و همه

کورونا هرڅه ګډوډ کړل
بخت مې هم خوار شو، ما موزي ته ورکوينه

په مازديګر سوې نارې شوې
کورونا يوړ مور او خور ګرېوان شکوينه

کورونا ګور ته رانه يوړې
نور مې وس نه شته بس دوعا درته کومه

کورونا نه يم، لرې مه ځه
زه روغ رمټ يم چا دروغ ويلي دينه

د کورونا په تور تورن شوې
هله سپينبږي چې بيا وکړې څو تستونه

د کورونا په تور بندي يم
اوس مجبوري ده قرنتين به تېرومه

له بېکارۍ نه په کور ناست يم
يار به مې وايي کورونا دی نه راځينه

په کورونا مې مه شرمېږه
کورونا باد دی هر یو تن ازاروينه

په تېره توره دې حلال کړم
د کورونا غړ دې چې راغی مړاوې شومه

تا به په ټوکو کې شمېرله
تست مې مثبت شو، کورونا نیولی یمه

تبه مې ده کورونا نه یم
رقیبان وايي کورونا دی مړ به شینه

په جدایي دې لمبه نه شوم
د کورونا غړ دې چې راغی لمبه شومه

یار کورونا تبه کې سوځي
پر ما ورېږي د سکروټو بارانونه

له کورونا نه ډار په کار دی
څېې یې راغلې عالمونه قتلوینه

افریقايي کورونا راغله
چېکه ګرځي، ځان به څنګه ترې ساتونه

په کورونا لړلی راشې
په تبه پرېوزې چې پوښتنې ته درځمه

پخوا یوازې بېکاري وه
اوس کورونا ورسره مل ده څه به کړونه

پر ځان مې سره تبه خپره شوه
ملا مې خوږېږي کورونا نیولی یمه

تر خولې مې چغې فریاد خېژي
د کورونا له وجې خوږېږي اندامونه

ما وې دا پورې غر به درونډ وي
د کورونا غم ته سپک ښکاري دا ټول غرونه

تر ما خو ته ښه یې شپونکیه
زه کورونا یم، ته بېغم ګرځې پر غرونه

له کورنا نه به ځان خلاص کړم
ستا د جفا دردونه تل راسره وینه

مخامخ مه راته درېږه
زه کورونا یم چې درنشي ویروسونه

ست مې ونکړ، خپه نه شې
پر ځان شکمن یم، کورونا نه شې مېینه

تر و تازه جانان مې ژېړ شو
زه پرې پوهېږم، کورونا نښې لرینه

سر مې نرۍ، نرۍ په درد دی
د کورونا د راتلو نښې دغه دینه

خلک یو بل باندې شکمن دي
کورونا هر چېرې بلا رابوتوینه

د کورونا نښې راکې دي
خیال مې دا دی چې ځان خپله تستومه

کورونا نه يې هسې وایې
ما ډاروې چې بیا دې سر کړي فریادونه

تا وې له هیڅ شي نه وېرېږې
کورونا راغله اوس دې نه شته درکونه

دردونه ټول یو شانتې نه دي
د کورونا درد اوس ګڼلي میدانونه

اوازې ځي راځي خلاصېږي
د کورونا دردونه شته پر اندامونه

جانانه داسې وخت راغلی
که کورونا شوې څوک دې ناخلي احوالونه

پام کورونا نه شې جانانه
که کورونا شوې، زړه له هرڅه تورووینه

تل دې په یاد ساتم جانانه
د کورونا درد کې ستا نوم پر خولې راځینه

ستا دې قسم وي چېرې مه ځه
که کورونا شوې څوک دې نه کوم پوښتنه

جانانه راشه چې سلا شو
د کورونا په وخت دې نه وي چکرونه

کورونا خپل خپلوان دې ومره
چې در معلوم شي د داغلو زړو حالونه

ځان که ملنګ کړې مخ ته راشې
د کورونا له ډاره نه کړم سلامونه

لکه چې بيا ديدن ونشي
چې ماسلان د کورونا راغلي دينه

ستا دې قسم وي يو ځل راشه
زه کورونا يم زړه مې مات دی وبمرمه

له کورونا نه به جوړ نه شم
پر ټول وجود مې غالب شوي دي دردونه

جانانه رنګ دې تور اوښتی
که کورونا يې ما ته ووايه حالونه

کوټې کې کښته پورته ګرځې
په کورونا لړلي ښنګ کې درته ځينه

کورونا هيڅ مراعات نه کړي
که درپسې راغله، بيا دې تبې زنګوينه

پر کورونا دې بلا پرېوزي
لارې دي خلاصې جانان دلته نه راځينه

لکه د سيوري درپسې وم
کورونا راغله اوس خو نه شته ديدنونه

زه تر زمري نه هم زړور وم
له کورونا نه خو ډارېږم، ځان ساتمه

د کورونا اشنايي نه شي
ټول ورنه تښتي پټوي ځان په کورونه

د هلک ونه د چنار وه
کورونا مات کړ، اوس خم، خم پر لارې ځينه

د هلک مور په لوړ غږ ژاړي
زوی يې و ګل، خو کورونا ورژاونه

هره ورځ ښار په لوري مه ځه
خلک به ډېر وي، کورونا درته راځينه

د ياراني مزی مې سست شو
د کورونا وبا خو هرڅه رنګوينه

له ياراني مې بېزار نه شې
اوس کورونا ده بيا به وشي ديدنونه

له کورونا نه مه ډارېږه
موږ به له لرې د يو بل کړو ديدنونه

که ياري نه کړې راته وايه
د کورونا پلمې دې مخ درتوروينه

د کورونا پلمې دې پرېږده
کورونا نه يې ما دې وليدل تستونه

کوروونا زړه راته سوری کړ
دومره اوړده شوه لکه غم، لکه جنګونه

کوروونا شته دیدن نه کېږي
خوشي ملنګ له ځانه ولې جوړومه

چا راته وې چې کوروونا دی
زړه مې لمبه شو، میلمانه مې شول ویرونه

د یار په تلو مې په زړه ویر و
چې کوروونا شو، شپه ورځ اوښکې تویومه

کوروونا زړه راته وریت کړی
نه زه ورتلای شم، نه هغه راته راځینه

آپخواني وختونه نه شته
کوروونا ایښي دي په هره خوا دامونه

کوروونا دومره یم مرووړلی
چې هرڅه وینم کوروونا خیال پرې کومه

دا ځینې ـ ځینې پسې لګیا دي
له کوروونا نه لوړ ـ لوړ ځلي جوړوینه

کوروونا نوم د ټوپک ډز دی
که در میلمه شوه بیا نو ډېر ورانی کوینه

د کورنا له نامه بد وړم
چې خوک یې وایي زه له قار وهم توپونه

له کورونا نه بنديوان يې
په چورتو نه شي غم کوه د واکسينونه

د کورونا ويروس چې راغی
په ټول بدن کې مې په سر ولګېدنه

د تش ديدن يې ارمانجن يم
کورونا هر لور غوړولي دي جالونه

په کورونا به زه تم نه شم
زه درروان يمه او غواړم ديدنونه

له کورونا که دا ځل خلاص شوم
بل چېرې نه ځم، ستا ديدن ته به درځمه

ته نور غمونه پر ځای پرېږده
د کورونا غم مې کوه چې مړ به شمه

د کورونا وير ليونی کړم
په کور کې ناست يمه سرسام وهم چورتونه

ښو طبيبانو جواب راکړ
د کورونا دردو ته نه شته درملونه

له کورونا نه وم په تېښته
دويم ځل هم راپسې راغله مړ به شمه

ځوان يم هر څه ته هوسېږم
کورونا راغله رانه پاتې هوسونه

د يار مې هرڅه د صفت دي
د کورونا له لاسه مړاوی، مړاوی ځينه

د يار خو ښې خوږې کيسې دي
کورونا راغله موږ له دې محروموينه

کورونا يار ته ور ميلمه شوه
داسې ميلمه ته دې خدای مرګ ورميلمه کړينه

د کورونا کاروان مې ولید
ځان مې پناه کړ ديواله ته ودريدمه

د کورونا کيسه اوږده شوه
اوس به کارو ته بله لاره سنجومه

د کورونا کشالې ډېرې
ځوانان له ستونزو په غمو ډوب شوي دينه

کوڅه کې يو ځل چا لاس راکړ
اوس کورونا يم، تبه درد مې نه پرېږدينه

چې چېرې ځې، هلته به پام کوې
کېدای شي چا به کورونا کرلی وينه

اوس زمانه داسې راغلې
چې کورونا وي اتبار کډه کوينه

ديدن کې هم خوند نه دی پاتې
چې کورونا وي بيا خوند نه کړي ديدنونه

اوس په هرڅه کې زړه نازړه یم
کورونا ګرځي هره خوا وهي لاسونه

چې څومره غواړې دیدن وکړه
چې کورونا وي، بیا به نه وي دیدنونه

یو خوا ځواني، بل احساسات شي
د کورونا خطر به څوک معلومونه

له کورونا سره به پام کړې
لکه لیوه له هرې خوا خوله لګوینه

کورونا بیا نن رااېسار کړم
خو زړګی وایي پرې ورځه، وکړه سیلونه

کورونا زړه دې دوه پلې شه
دیدن شو پاتې قاصدان هم نه ورځینه

د یار د کډې خبر راغی
خو کورونا مې مخه نیسي نه پرېږدینه

کورونا څه حالت راوستی
چې زوی له مور او مور له زوی نه بېلوینه

یاري دې نه غوښته رانغلې
د کورونا پلمې د  وکړې په چلونه

چې کورونا وي غیرحاضره
له خدایه غواړم زه هغسې مجلسونه

د يار ليدلو پسې راغلم
د کورونا ماسل مې وړاندې نه پرېږدينه

ته دې به په خپله ځان ډاډه کړې
په کورونا کې ځوک ناخلي احوالونه

زما ديدن ته چې رانشې
زه کورونا يم چې درنشي وېروسونه

ډېره خواري راپسې مه کړه
زه کورونا يم رانازل دي ډېر دردونه

ډول سينګار دی رانه پاتې
اوس کورونا سره خپرې لګومه

ګوروه زمونږ خواته رانشې
ټول کورونا يو له هرڅه نه پاتې يونه

په کورونا باندې ورواورې
ته چې پردو کوڅو ته ځې کوې سيلونه

خلک به خود راباندې ژاړي
يو کورونا يم، بل مې نه کوي پوښتنه

د افسوس ور نه يم عالمه
د کورونا په منځ کې خپله ګرځېدمه

بخت خو پخوا نه هم کوته و
پرې سرباری شوه کورونا څه به کومه

د ځان ساتنې په راز پوه وې
اوس کورونا شوې تا هېڅوک نه قبلوينه

راځه، راځه چې ديدن وکړو
که کورونا شوو په خندا بې تېرونه

زه کورونا شوم ته به څه کړې
ځان رانه هېر دی اوس پر تا ژړا راځينه

که کورونا شوې ما خبر کړه
زه به له ماسک سره پوښتنې له درځمه

له کورونا نه تېښته نه شي
ښه چاره دا ده چې کوو به احتياطونه

له کورونا نه يې خبر شوم
پر ما تېرېږي چا ته نه وايم حالونه

راځه چې بڼ ته لږ چکر شوو
د کورونا شک مه کوه زه روغه يمه

په ديدن ښې سترګې مړې کړه
کـورونـا راغـلـه مـا و تـا جـلا کـويـنـه

د چکر وخت کې واتن ساته
له لرې، لرې به د سترګو جنګ کوونه

زه مرور نه يم جانانه
د کورونا لپاره لرې درنه ځمه

تا دروازې راټکولې
د کورونا له ډاره زه نه دروتمه

د کورونا له ډاره یاره
سپیره مخ راغلم زما هېر دي سینګارونه

چې هرڅه خورم زه پرې شکې یم
د کورونا له ډاره ډېر شول شکونه

انتظار مه کوه جانانه
د کورونا له ډاره نه شي دیدنونه

دا کورونا ځومره اوږده شوه
خلکو نه پاتې شول اړین ضرور کارونه

خدای دې په خپله رحم وکړي
ټول وایي جوړ یو په چا نه شته باورونه

کورونا خپله یو تشویش ده
کورونا نه یم، ما یې نوم هم زوروینه

خوب مې لیده چې کورونا یې
رییښتیا یې مه کړې سر تر پایه عذابونه

خوب مې لیده چې کورونا یم
کوکې وهم او مځکه ځای نه راکوینه

ټوکې یې مه ګڼئ یارانو
د کورونا راباندې راغلل ډېر دردونه

د کورونا نښې همدا دي
سر مې ښه درونډ دی او په ځان کې مې دردونه

راځه چې تل خوشحاله اوسو
کورونا ګرځي، نیمخوا نه شو مینه

د میني خوړ بحث به راپیل کړو
د کورونا احوال مو ډېر ـ ډېر زوروینه

ډېره موده شوه نه ښکارېږي
که کورونا وي چې پوښتنې تې ورځمه

که کورونا شوې درنه تښتم
چې پوره روغ شوې، بیا به هره ورځ درځمه

د کورونا غم دې خوک نه خوري
هوښیاري دی هغه چې په خپله ځان ساتینه

ملا ته ورنه شي جانانه
د کورونا له پاره نه شته تاویزونه

د کورونا دمونه نه شته
خوشې چوف پوف کړي، ملایان دې غولوینه

کورونا یم احوال مې ناخلې
یوازې پاتې یم دردونونه تېرومه

د کورونا جګړه ده سخته
چې نه وسله وي نه پیدا شي درملونه

د کورونا بنېرې به نه کړې
د کورونا دردونو نه شته طاقتونه

زما په شانې کورونا شې
په تبه پرېوزې، بیا دې ناخلم احوالونه

خاونده بیا دې کورونا کړم
بیا مې ده تبه درد غالب پر اندامونه

خاونده ته مې مددګار شې
کورونا راغله بیا هرڅه ګډوډوینه

خاونده ته مې ساتندوی شې
د کورونا له لاسه در په دره یمه

کورونا څه چارې راوکړې
دا څویم ځل دی چې سم کار راړنګوینه

اوس کورونا ده نه درځمه
د زړه کراره چې درنکړم تکلیفونه

یاره بل وخت به غاړه درکړم
په کورونا کې ډېر ضرور دي احتیاطونه

د کورونا باران پیل شوی
ډار مې په دې دی چې به یار ناروغه شینه

کورونا راغله زړه خپه شو
د کونډې زوی به لو و لور څنګه کوینه

د کورونا باران وريږي
واکسين چې نه وي، نو ژوندون تهديدوينه

هوا سړه زړه مې خپه ده
د يخ موسم کې کورونا منډې وهينه

د مسافرو لويه خدايه
يو کورونا، پردي وطن، څه به کوينه

غم دې مرض د کورونا دی
چې هر وطن ته ترينه تښتم هلته وينه

کورونا ورکه کړې خاونده
په لوږې سر خوار و غريب حلالوينه

کورونا لړه وي که ډېره
زه د اشنا ديدن ته خامخا ورځمه

تر کورونا نه هم بدتر وو
چې ظالم يار پر زړګي راکړل ډېر داغونه

تګ او راتګ دې لږ درکم کړه
د ظالم زويه کورونا دې څملوينه

هغه له هيڅ شي نه ډاريږي
په سخت ترينه کورونا کې هم راځينه

د هر موسم جلا خوندونه
چې کورونا وي د خولې خوند خرابوينه

د کورونا ناکاره رنځه
پټېدای نه شې سست مې ټول دي اندامونه

له کورونا ښځه ځان ساته
وچ او لامده ټول ګډووډ سره سېځینه

کورونا رانشې دې خوا ته
په جنجالو مو واده جوړ، ګډوډ به شینه

شا و خوا ټوله کورونا ده
اوس د اشنا دیدن ته چېرې ودرېږمه

خدایه په خپل فضل یې ساته
د مرور اشنا مې نه شته واکسینونه

د خپل وطن غُربت ته ژاړم
یو کورونا او بل یې لوږه زورووینه

له کورونا ځان ساتل بنه وي
بې احتیاطي کې خامخا وي ډېر رنځونه

چې کورونا وي نو بلا وي
موږه یې څه کوو، په هر نامه چې وینه

کورونا هر څه موږ نه هېر کړل
موږ نه یې هېر کړل تورې سترګې سره خالونه

دا تګ راتګ دې لږ راکم کړه
کورونا ګرځي غورځوي دنګ اندامونه

افسوس، افسوس بيا کورونا شوم
ځينې يې دروغ ګڼي پوښتنه نه کوينه

ګوره چې نور ژوند به شي ښکه
کورونا دلته ده تلپاتې نه به ځينه

د تا له لاسه کورونا شوم
ستا د راتلو په وخت کوښې ته ووتمه

زړه دې ترکاڼې کلک دی یاره
چې کورونا شوم ته مې ناخلې احوالونه

نن مې له زړه نه وينې څاڅي
بيا کورونا شوم يار مې ناخلي احوالونه

ما دې په سترګو کور جوړ کړ
چاره مې نه وه، کورونا نه ډارېدمه

که کورونا نه شوم جانانه
د مازديګر ديدن دې نه قضا کومه

ښېرا دې وکړه کورونا شوم
تاوان به راکړې چې درانه يې دي دردونه

د کورونا په رنځ اخته يم
ما ته د نورو غمو مه وايه چې مرمه

ښېرې دې ټک پترۍ شوې ياره
بيا کورونا شوم راچاپېر شولو رنځونه

په زړه مې ته وې خدای رانکړې
د کورونا رنځ سرباری شو مړ به شمه

په زړه مې درې غمونه بار دي
يو بېکاري، بل کورونا او ستا غمونه

په کورونا مې خبر واخله
چې درمالوم شي د دردو سوي داغونه

خوک مې د حال پوښتنه نه کړي
کورونا رنځ له زغم وتلی، مړ به شمه

زما احوال داسې دی یاره
دردونه ډېر دي ځان په مړو حسابومه

له کورونا سره سوچ مل دی
په داسې رنځ کې به هر څوک وهي سوچونه

د تا ښېرو زه کورونا کړم
تا دې خدای ساتي زه دوعا درته کومه

ترکورونا نه هم ظالم يې
بخت مې کوته شو چې پر تا مئينېدمه

په کورونا باندې وریبښ شوم
اوس خو وریبښ شوم ځان به څنگه خلاصومه

د کورونا رنځ او غمونه
دومره رنځونه دریابونه وچوینه

د کورونا زور درمالوم شو
نه دې منله اوس زغمه تبې دردونه

اوس به پوه شوی يې که نه يې
د کورونا رنځ ړنګوي د تيږو غرونه

بدن مې خوار لکه وچ ډکی
د کورونا د تبې داسې وي زورونه

کورونا درد نه به ځان ساتې
د سترګو رَپ کې ړنګوي دنګ ـ دنګ برجونه

د کورونا درد مې ليدلی
نور مې توبه ده بيا مجلس نه جوړومه

کورونا باد مې زړه سوری کړ
د درد چنچنې په کې ځالې جوړوينه

زړګيه هلته بيا روان يې
چې کورونا د بدن غوښې پر اور ږدينه

کورونا زړه راته چولی
زه خوار غريب به يې په چا باندې ګنډمه

په صورت روغ درته ښکاريږم
خبره نه يې کورونا نيولی يمه

چې کورونا بدن ته راغله
نور به دې تن بدن په خدای سپارې مينه

کورونا راغله نه درځمه
د زړه کوڅې درځنې کله بېلومه

خلک به ټول ورته حيران شي
د کورونا د درد داستان که بيان کړمه

پر زړه مې ځای د داغو نه شته
د کورونا د درد بېشمېره دي داغونه

کورونا پام نړدې رانشې
د لومړي دور مې لا هېر نه دي دردونه

که د دردو د زغم اتل وي
چې کورونا شي زغم يې ژر کډه کوينه

کورونا سمدم نيمايي کړم
خدای دې په داسې رنځ څوک نه اخته کوينه

خدای دې د مور قبر دوزخ کړه
چې کورونا يې ولې ما نه خبروينه

کورونا خملولې ياره
ما خو لاپرېړده جنګی دې يادوينه

چې کورونا باندې رنځور شي
دردونه ډېر شي، پرې غالب شي افتونه

چې کورونا ورته ميلمه شي
هوښيار سړی به ډېر ژر ځان ترې خلاصوينه

بې احتياطي دې وکړه ياره
په کورونا چې شوې اخته ژړا راځينه

د کورونا سزا درنه ده
ته به دردمن يې، خلک لارې چيوينه

په کورونا چې ځوک رنځور شي
دا يې قصور شي رنګ يې ځای ته نه راځينه

اوس زمانه سرچپه شوې
په کورونا کې تګ راتګ نه خوښوينه

د کورونا رنځور وم خدايه
پوښتنه نه وه، ځينو بېل کړل ګودرونه

راشه چې مينه درله درکړم
کورونا راغله بيا به وکړې ارمانونه

راشه چې زړونه سره ورکړو
که کورونا شي، بيا به نه وي ديدنونه

په کورونا کې وچ ملنګ شوم
کچکول په غاړه د ديدن کوم سوالونه

اوس ګڼه ګونه لوی غضب دی
په هر يو پل کې کورونا حملې کوينه

بيا مې توبه ده ښار ته نه ځم
د ښار په هر ځای کورونا وهي موجونه

د کورونا نوم چې وانخلې
ماسک چې راپاد کړم سا مې تنګه، تنګه شینه

د کورونا هره څپه کې
چې هر خوا ګورې تیمبوزکې وي مېینه

چې څنګ زما د ځوانی وخت شو
کورونا راغله په هرڅه دي بندیزونه

زما لاس تورو سپو څټلی
کورونا راغله هرڅه ګډوډ پراته دینه

کورونا راغله بندیز عام شو
په تش دیده پسې دې زړه کبابومه

د کورنی بندیز خو پرېږده
د کورونا بندیز مې زړه کبابوینه

کورونا ټوکې نه دې یاره
که درپسې راغله بیا به مروړې خپل لاسونه

زه یې له نوم نه هم ډارېږم
چې کورونا، کورونا وایې مړ به شمه

د کورونا زور رامالوم دی
ځکه په هرپل کې کوومه احتیاطونه

په کورونا باندې کار نه کړې
که شویستونو باندې ځان وپېړسومه

په علم پوهه باندې کېږي
پوهه يې پرېښې په دمو يې تم کوينه

چې کورونا شوم، تا لاس واخيست
لکه د للمې ګل پر ډاګ دې پرېښودمه

ګناه د تا ده، زما نه ده
کورونا راغله موږه دواړه سوځوينه

کورونا داسې چارې وکړې
چې څوک له لرې وګورم لار کږومه

تا پټوله، پته نه شوه
د کورونا تبه دې وايي احوالونه

چې کورونا شوې د بستر شوې
رب دې را جوړ که زه دوعا درته کومه

زه له بنګړو لونګو تېر يم
دې خوا رانشې کورونا دې غورځوينه

زړه به مې ولې خپه نه وي
د کورونا درد مې بدن رالړزوينه

د کورونا درد به مې ورک شي
که دې په مينه راته وخندل مېينه

يار کورونا شو ځان يې ورک کړ
چاره مې نه شته لټومه روغتونونه

په کورونا دې ځان اخته کړ
په تاويز نه شي د واکسين کوه سوچونه

کورونا رنځ دی، خو صادق دی
نه رشوت اخلي او نه بډې ورکوينه

کورونا اور نه هم تبرى کا
چې ځنګه راشي، ټول بدن دې سوځوينه

کورونا څو ورځې ميلمه وي
کراره ناسته وي يو دم سر جګوينه

چې تله راتله وي کورونا وي
مراعات نه کړي ټول شيان ګډوډوينه

د مخ هډوکي مې ښکاره شول
د کورونا تبې بوډا ته ورته کړمه

کورونا زړه راته چولی
پر زړه مې دغسې پولۍ ولاړې دينه

په کورونا باندې اخته شوم
ناروغ لالى دي په دا نن سبا کې مرينه

د کورونا په غمو بار يم
بېځواکه ځنګه د وعدې ځای ته درشمه

له کورونا نه دې ځان خلاص کړ
زه بد قسمته هره ورځ ځان پر لړمه

په تور توپک ویشتلی راسي
د کورونا احوال دې مه راځه مینه

په کورونا مې نه لورېږې
دومره خفه شې لکه زه چې څومره یمه

مینه دې پټه ساته زړه کې
دلته رانشې کرونا دې ډوبوینه

کورونا داسې لیونی کړم
کتاب مې واخیست په درسو نه پوهېدمه

د خدای دربار کې دوعا وکړه
چې کورونا باندې اخته نه شوم میینه

کورونا تست پایله منفي وه
پرته له ډاره به د زړه خواله کوونه

چې کورونا کړمه رایاده
د میني بڼ باندې مې راشي سیلاونه

بیا مازدیګر وخت د دیدن شو
د کورونا په وجه بند دي دیدنونه

کورونا نه ده سمدم اور دی
میین زړکی مې په لمبو کې سوځوینه

که کورونا شوله برلاسې
هر څه پاتېږي ارمانجن به ګور ته ځمه

که کورونا درياب کې ډوب شي
بيا د خلاصون له پاره هېڅوک نه درځينه

چې کورونا شوه ته هم لاړې
زه دې دردونو ته يوازې پرېښودمه

ما کورونا نه پېژندله
د تا ديدن ته چې درتلم پرې واوښتمه

تا خپله ويلې کورونا يم
چې درنغلم اوس ګيلې کوې مېينه

کورونا دومره کړم بېځواکه
نور څه کړاى نه شمه بس نوم دې يادومه

کورونا داسې درس راکړى
له هر مجلس بنډار به واخلمه لاسونه

کورونا هر چېرې بلا وي
چې بلا راشي خامخا ورانې کوينه

کورونا ټول وجود کولبه کړ
د درد بزګر بيا په کې وکرل ويرونه

د کورونا ښه عدالت دى
خوار و غريب او شتمن ټول راګيروينه

يار مې ترټولو نه ځواکمن و
چې کورونا شو نه يې ځواک نه طاقتونه

د کورونا څپو کې غرق شوم
چې د واکسين نوبت راځي هلاک به يمه

زما او ستا چې يارانه شوه
کورونا راغله، اوس څوک ناوري فريادونه

که کورونا په ډنډ کې ډوب شي
د مرستې چيغې به وهې، څوک نه درځينه

د کورونا درد ليونی کړم
شومه باخاره اوس مې کلي نه شړينه

نن خو مې ډېر يادېږې ياره
ته کورنا يې زه درتلای نه شم ميينه

کورونا ډېر لري دردونه
له ناچارۍ نه يارانه ورته پرېږدمه

له کورونا نه تښته ياره
ځان دې ساته ورسره مل دي خطرونه

کورونا راغله واکسين نه شته
ډېر به زورېږي چې يې نه وي واکسينونه

د کورونا چې ښنګه غږ شو
پر ما ماتم شو، را چاپېر شول ستا غمونه

کورونا نښې نه پټېږي
ته به خاموش وې، هغه سر پورته کوينه

کورونا هرځای درد کړلی
چې بې احتیاط وي د دردو لوبه کوینه

یار یارانه راسره نه کړي
کورونا بله میلمنه ما زورووینه

د چا بنېرو یمه وهلی
دا دویم ځل دی کورونا راپسې راځینه

کورونا راغله یار مې ورک شو
د کورونا درد به زه څنګه تېرومه

چې روغ وم، ښه وم راتلل خلک
چې کورونا شوم څوک مې نه کوي پوښتنه

په کورونا کې سوی سکور شوم
یار ته پیغور شوم اوس مې څنګ کې نه پرېږدینه

چې کورونا وي ځان ترې ساته
که ګیلمن شو ورته وړاندې کړه عذرونه

جانانه ستا په کورونا کې
په منډه لاړمه تر ټولو زیارتونه

کورونا مه هېروه یاره
چې دې په یاد وي نو کوې به احتیاتونه

کورونا شته غفلت ښه نه دی
چې ترې منکر دي، په ځان اور به لګوینه

کورونا توله درد او غم دی
چې درد لري هغه به نه کوي خوبونه

کورونا ګل نه دی ازغی دی
چې څوک ازغی زړه کې لري څه به کوینه

له کورونا نه دې خدای ساته
که ګرفتار شوې، غورځوي دې په کورونه

له کورونا مې زړګی تور دی
چې څو ژوندی یم، وابېنځلمه نومونه

یار سلامت و روغ رمټ و
د کورونا له لاسه تور لحد ته ځینه

چې یار ته ځې خطر قبول کړه
له کورونا سره خو شته دي خطرونه

یار کورونا موسم کې راغی
چې دیدن غواړم، نو قبول مې دي رزکونه

پلار مور نعمت دی پام پرې بویه
کورونا ګرځي پاخه عمري خوښوینه

د کورونا له درده مړ شو
ناڅاپه ولوید رقیبان خوشالوینه

له تورو غرونو پناه یاره
زه کورونا یمه وروستی دیدن کومه

احتياط کار دغسې وي ياره
چې خلک راشي، نو کوټه هم چپوينه

که ته له ما سره ياري کړې
په کورونا کې دې هم اخلم احوالونه

ستا کورونا کې سرګردان يم
چې چېرې ځمه لار کې خورمه ټيندکونه

ولې له ما نه لرې ګرځې
کورونا نه يم پر ما وکړه باورونه

چې کورونا شوم رانه لاړې
ستا په ديدن پسې وړې سلګۍ و همه

په انتظار کې اوسه ياره
له کورونا نه چې لږ ښه شوم دربه شمه

جانان دا څو ورځې رانغی
د کورونا خيال بې پر موږه کړی وينه

جانان مې هيڅ نه مالومېږي
راته ښکارېږي کورونا به وي ميينه

ما خو دروغ، دروغ ګڼله
د جانان کډه کورونا ورباروينه

تا خو په ما پورې خندلې
چې کورونا شوې اوس دې خېژي فريادونه

حال مې له چا سره شریک کړم
یار کورنا دی اوس دردونه تېروینه

ته کورونا وې حال دې نه وې
عالم خبر شو اوس دې څه کړم احوالونه

خاونده یار کورونا نه کړې
پردی وطن دی بیا به څه چاره کومه

پرېږده پېغور د ټولو واورم
د کورونا احوال یې خلک خبروینه

اوس هم ډارېږم په تشویش یم
په سفر تللی کورونا نه وي میینه

که نږۍ ټوله کورونا شي
دیدن د یار مې چې عادت دی وربه شمه

داسې طبیب به پیدا نه شي
چې کورونا نیولی ژر ورغوینه

چې نیمه شپه شي تبه سره شي
د کورونا په ناروغ نور راځي دردونه

د کورونا درد به هم تېر شي
د ظالم زویه ته مې ناخلې احوالونه

په وروستي وخت کې یو ځل راشه
د کورونا ډار مې په مرگ تهدیدوینه

لاس مې چې درکړ، لاس دې سور و
د کورونا احوال دې لاس کې ښکارېدنه

کورونا رنځ دی، شرم نه دی
دغه حالت خو په هرچا باندې راځينه

چې هر خوا ولاړ شې، کورونا شته
له دغه رنځه خلاصی نه شته په سيلونه

ځان کورونا ته ولې سپارې
په خپلو پښو چې ورروان يې، خود دې وړينه

خلک خوشحال وو سره او سپين وو
د کورونا راتګ خو زيړ کړل ډېر مخونه

د ژوندون تول خوندونه ستا شول
زه کورونا يم خپل نصيب مې ژړوينه

ته کورونا شوې او ګوښه شوې
زه دې غمو سره يوازې پرېښودمه

کورونا يار راخخه واخيست
خاورې لالی شو ژوندون خوند نه راکوينه

ته د خوښۍ په تال کې زانګه
زه به د خپلې کورونا ژړا کومه

يو کال به غرونو کې ايسار شم
د کورونا دور چې تېر شو رابشمه

که خدای مې دا وارې ترې خلاص کړي
د کورونا پر لار به نه ږدم قدمونه

د کورونا ډار راپسې و
ګنې وطن مې داسې ژر نه پرېښودنه

تر څو به تښتې کورونا نه
چېرې چې ځې، دا درپسې، نه دې پرېږدينه

کورونا لاندې کړم جانانه
پردی وطن دی زه مخ چا ته واړومه

ځان دې پناه کړه رانه لاړې
کورونا زور شوه بيا خپرې لګوينه

خبر مې اخله چې مړه کېږم
د کورونا تبه مېچنې ګرځوينه

ته لرې، لاړې مسافر شوې
کورونا راغله موږ بندي يو په کورونه

د کورونا رزک مې منلی
هجران دې سوی يم، نور نه شته طاقتونه

لارې کوڅې مې دې خوښېږي
د کورونا له لاسه نه درځم مېينه

زه دې ديدن ته ترږی وږی
د کورونا ستونزه چې وي نه به درځمه

د کورونا استازي ګرځي
توپير يې نه شته پر هر چا کېږي غورځنګونه

په کورونا لړليه ياره
درتلای خو نه شم، بس دوعا درته کوومه

چېرې چې ځې، کورونا شته ده
له دې وبا نه به ځان ځنګه خلاصونه

کورونا څه بده بلا ده
لکه د سيوري غوندې هرې خوا ته ځينه

څه بېکاري څه کورونا ده
خلک خواره شول، وطن څوک ابادوينه

که کورونا ده که بلا ده
زه در روان يم، ما منلې دي رزکونه

د سر ساتنې مسأله ده
د کورونا له لاسه تښتي زلمي جونه

چې کورونا ژر پرې رغېږي
خدايه هغه درمل به کوم وطن کې وينه

خوښي خندا شوه لادرکه
وير کورونا غاړه غړۍ راغلي دينه

زما د لرې وطن ياره
هر څه مې هېر دي کورونا مې زوروينه

د ژوندون چارې ګډوډې
زه کورونا پر لاره ځم سلګۍ وهمه

د پسرلي خوندونه نه شته
چې کورونا وي څه شنېلۍ څه خزانونه

زه به په څه شي زړګی ښاد کړم
چې خوښېدل مې کورونا وهلي دينه

کورونا پام کوه رانشې
زه د اشنا خوا ته پرون راغلی يمه

اشنا ته ښه زېرۍ همدا دی
چې کورونا له وطن کډې باروينه

لکه د سيوري راسره وي
د کورونا د پښو ښکالو مې نه پرېږدينه

په سفر نه کېږي جانانه
له کورونا نه هسې ډک دي وطنونه

کورونا تم شه مه رادرومه
زموږ د مينې وخت سپرلی دی تېر به شينه

کورونا وريځ ده هر خوا تلی شي
احتياط واکسين که وي، په امن کې به يونه

د خطر ټکی خو همدا دی
د کورونا باران څوک نه وينې مينه

کورونا نوې ستونزې راوړې
موږ ته يې راوستل څه نور شانتې غمونه

يار کورونا تبې نيولی
پر ما وربېږي د سکروټو بارانونه

له کورونا نه نه ډارېږم
په ما تېر شوي دي له دې نه لوی رزکونه

د کورونا توفان په اوج کې
د درد ږلی مې ورېده پر اندامونه

زړه مې د وينو ډنډ ته ورته
د کورونا باران يې ورو ـ ورو نړوينه

د کورونا وبا چې راغله
زما يې ړنګ کړل د کلونو پلانونه

په کورونا کې داسې حال دی
د درد لښکر مې پر ځان هر ساعت راځينه

د کورونا دردونه ډېر دي
څوک به يې واوري زما کړی فريادونه

باران د وصل بې راپرې کړ
د کورونا له لاسه ستړی ستومان يمه

د تا له لاسه مې دا حال دی
کورونا ګلې؟ نور له موږ واخله لاسونه

د کورونا باران وربېږي
د ژوندون بار پر اوږو خلک کار ته ځينه

کاشکي وزرې مې لرلی
د کورونا له لاسه ګرځېدای پر غرونه

چې کورونا اورمه رېږدم
که پر ما راشي تبه، څه حال به مې وينه

د کورونا باران دې نه شي
تر وتازه ځوانان به مړاوي، مړاوي شينه

چې کورونا شي د بستر شي
زړه يې پرهر شي د ديدن تمه لرينه

چې کورونا راباندې راغله
له ډېره غمه اوسيلي مدام کومه

اوس له ديدنه زه درتېر يم
کورونا ګرځي ورسره دي خطرونه

داسې باران دې شي راښکته
چې کورونا بيخي له بېخه وباسينه

جلی ناروغه په کور ناسته
د کورونا تبه لري ژړا کوينه

مخکې مې دوې ستونزې ولاړې
يو کورونا بل بېکاري، څه به کومه

ځان دې ساتلی و جانانه
د کورونا په زړه دې بل کړل سره اورونه

تر نيمي شپې چې ته راننغلې
د کورونا فکر دې درې ورې کړمه

هغه ځــواني مي پاتــه نــه ده
د کورونا دردونو تک زیړ کړی یمه

کورونا کاش راغلې نه وای
هر څه دې وران، زلمي دې ورک کړل له وطنه

کورونا بده تر ټوپک ده
ناڅاپه ټک شو په زړګي يي وويشتمه

په کورونا ويروس اخته شې
چې ټول دې پرېږدي، زه دې غېږ کې ګرځومه

## ۶ ـ د ليکوال بيوګرافي:



پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نېټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې د کابل د علاوالدين په تجربوي ښوونځي کې کړې دي، بيا يې د کابل په محمود طرزي ليسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی يې د ميدان ښار د نرخ په ليسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په مياشت کې يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پيل کړې او په ۱۳۵۸ کال يې د ليسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمين کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې يې د استاد صديق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تيزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهيسې شعر وايي، نوی شعر ډير ليکي، کله، کله يوه نيمه غزله او قصيده هم ليکي. په سل ګونو علمي تحقيقي مقالې، شعرونه او کتابونه يې په هيواد کې دننه او له هيواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بريښنايي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپېتمه لسيزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستيالۍ دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نيټې په شپيتمه لسيزه کې د اوږدې مودې له پاره د راديو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اوريدونکي» ليکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د ليکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هيواد کې دننه او له هيواد څخه د باندې يې په لسګونو علمي او فرهنګي سمينارونو کې ګډون کړی، مقالې يې ورته ليکلي دي او په يادو سيمينارونو کې يې لوستي دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشيتوب او د يادې ټولنې د ادبياتو د څانګې مسوليتونه ورله غاړې وو.

د سويډن په بيلابيلو ښارونو کې، د سويډن هيواد او په سويډن کې د ميشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سيمينارونو ته بلل شوی او د يو لکچرر په صفت يې کارنده او فعاله برخه په کې اخيستې، مقالې يې ورته ليکلي دي او له سکندنويايي هيوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره يې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردي چاپيريال کې د مورنۍ ژبې د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږيدلی، مشورې يې ورسره کړي او د سويډن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کې يې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

**آصف بهاند د خپل ادبي فعالیت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:**

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخیيل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دويم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دريم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوڅانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مرورهٔ مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لاروړکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ښتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ــ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ــ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوې دی،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې دی،

۲۱ ـ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوې دی.

۲۲ ـ د ډنمارکي فرهنګ ځو غوره بېلګې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوې دی.

۲۳ ـ یو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_danmarky_farhang_ketab9.pdf لیکه شوې دی.

۲۴ ـ ژوندي یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوې دی.

۲۵ ـ د تللو یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوې دی.

۲۶ ــ راشه! چې سترګي مې له مځکې نه راټولې کړمه، (څلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۷ ــ ښځګلې، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۸ ــ موري مننه چې ویده دې کړمه (پنځمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۹ ــ مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې، دا کتاب د ۲۰۲۱ کال اپریل میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۳۰ ــ يو ځراغ (د استاد شریف بهاند ژوند، علمي ــ فرهنګي هڅې او مړینه)، دا کتاب د ۲۰۲۱ کال په جولای میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.
۳۱ ــ کورونايي لنډۍ (د کورونايي لنډیو لومړنۍ ټولګه)، مقدمه، توضیحات او راټولونه: آصف بهاند، همدا کتاب

## چاپ يا آنلاین کولو ته تیار:

ــ د شعرونو یوه ټولګه،
ــ او پنځه عنوانه څېړنیز کتابونه.
پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څېړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای